

سلسلة مطبوعات (النجاة) رقم (5)

الكمال

في

دروس الجمال

ليكونكى

أبوياسر (عمر أحمد) الأفغاني



طبع باهتمام

مؤسسة النجاة الاجتماعية الخيرية

افغانستان

الطبعة الأولى

١٤٣٧ هـ - ٢٠١٦ م

د تجويد اهميت

د تجويد اهميت په باره كې الله ﷻ فرمائي:

﴿ وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا ﴾ المزمل.

امام بيضاوي (رحمه الله) ددې آيت په تفسير كې فرمائي:

" اى جود القرآن تجويداً ".

ژباړه: وايه قران مجيد په تجويد سره.

او علي (رضي الله عنه) فرمائي:

" الترتيل هو تجويد الحروف ومعرفة الوقوف ".

ژباړه: ترتيل دحروفو كره كولو او دوقفونو پيژندلو ته وايي.

د ترتيل اقسام

ترتيل په دوه قسمه دى :

① تجويد الحروف. ② معرفة الوقوف.

- تجويد الحروف هم په دوه قسمه دي :

① مخارج الحروف. ② صفات الحروف.

- مخارج الحروف هم په دوه قسمه دي:

① المخارج المحققة. ② المخارج المقدرة.

- صفات الحروف هم په دوه قسمه دي:

① الصفات اللازمة. ② الصفات العارضة.

- صفات لازمه هم په دوه قسمه دي:

① صفات لازمه متضاده. ② صفات لازمه غير متضاده.

- صفات عارضه په څلور قسمه دي:

① عارض بالصفت. ② عارض بالحرف.

③ عارض بالوقف. ④ عارض بالحركة.

- معرفة الوقوف هم په دوه قسمه دی:

① كيفية الوقف. ② محل الوقف.

- محل الوقف په شپږ قسمه دی:

① وقف اتم يا لازم. ② وقف تام. ③ وقف كافي.

④ وقف حسن. ⑤ وقف قبيح. ⑥ وقف اقبح.

- كيفية الوقف په پنځه قسمه دی:

① وقف بالسكون. ② وقف بالاسكان.

③ وقف بالاشمام. ④ وقف بالروم.

⑤ وقف بالابدال.

فائده: ترتيل په لغت كې صفا صفا لوستلو ته وايي.

او شرعا: ترتيل په شپږو خبروباندي عمل كولو ته وايي:

① هر حرف د خپل مخرج نه صحيح اداء كول.

② د صفاتو لحاظ ساتل.

③ د وقف او ابتدا لحاظ ساتل.

④ حركات معروف اداء كول.

⑤ اواز ښايسته كول.

⑥ د شد او مد خيال ساتل.

اوله لمعه

دعلم تجوید ابتدائی خبري

د هر علم په شروع کی د یو څو خبرو پیژندل په کار دي چې پدې لمعه کې به د تجوید علم اړوند ابتدائي خبرې په لاندی ترتیب سره بیان شي:

1. تعریف د علم التجوید.
2. موضوع د علم التجوید.
3. غرض د علم التجوید.
4. فائده د علم التجوید.
5. حکم د علم التجوید.
6. واضعین (بنسټګر) د علم التجوید.
7. ارکان د علم التجوید.
8. اصطلاحات د علم التجوید

تعریف د علم التجوید

تجوید په لغت کې ویل کیږي: (تحسين الشئ) یعني خایسته کول د یو شي ته.

او په اصطلاح کې: (هو أداءالحروف من مخارجها الخاصة لها مع جميع صفاتها اللازمة والعارضة بسهولة وبغير كلفة).

ژباړه: (تجوید) ادا کول د حروفو دي د خپلو خاصو مخرجونو څخه ، سره د ټولو صفات لازمه او عارضه ؤ نه، په سهولت سره بغیر د سختئ او تکلیف څخه.

نو د علم التجوید ((دتجوید علم)) داسې تعریف کولی شو: (هو علم يبحث فيه عن مخارج الحروف وصفاتها وعن طرق تصحيح الحروف وتحسينها).

ژباړه: دا یو علم دی چې بحث کیږي پدې کې د مخارجو د حروفو او د هغو دصفاتو او د هغو طریقو د صحیح کولو د حروفو او خایسته کولو د هغې نه .

حاصل: علم التجويد د هغې علم نوم دی چې په هغې کې د عمل لپاره څه قواعد بيانيږي.

او تجويد د هغې عمل نوم دی چې په کولو سره يې د قرآن کريم الفاظ او حروف خايسته کيږي نو تجويد د عمل نوم دی او علم التجويد دعلم نوم دی .

موضوع ددې علم

موضوع ددې علم حروف هجاء دي يعني الف نه تر يا پورې.

غرض ددې علم

(هو صون اللسان عن الخطأ في أداء القرآن، وتلاوته كما انزل، وتحسين القراءة).

ژباړه: ساتل د ژبې دي د غلط قرآن لوستلو نه، او په هغه طريقه قران كريم لوستل لكه څرنګه چې نازل شوی دی، او خايسته لوستل .

فائده ددې علم

(سعادة الدارين)، د دواړو جهانونو (دنيا او آخرت) كاميابي او نيك بختي ده .

حكم ددې علم

دعلم التجويد حاصلول فرض كفائي دي. او قران كريم د تجويد د قواعدو موافق وئيل فرض عين دي .

اركان ددې علم

اركان د علم التجويد څلور دي :

① مخارج الحروف (دحروفو مخارج)

② صفات الحروف (دحروفو صفات)

③ تركيبي احكام او قواعد .

④ د ژبې سره محنت او رياضت كول .

واضعين (بنسټګر) ددې علم

واضعين ددې علم په دوه قسمه دي:

1. من حيث الأداء.
2. من حيث القواعد.

من حيث الأداء

رسول الله ﷺ پخپله دی، ځکه په قرآن کريم باندې داسې تلفظ رسول الله ﷺ پخپله کړی دی (يعني د تجويدو قواعدو موافق).

من حيث القواعد

يعني ددې علم لپاره دا قواعد چا جوړ کړي دي؟.

ددې علم لپاره دا قواعد ابو الاسود الدؤلي د عمر او علي (رضي الله عنهما) په حکم جوړ کړيدي، او تفصيلي قواعد امام خليل او امام فراء او سيبويه وغيره جوړ کړي دي. او ددې علم وضع او ترتيب په (۱۵۰) هجري کې شوی دی.


إصطلاحات

له دې څخه د تجويد هغه اصطلاحات مراد دي چې د تجوّيد په کتابونو کې ذکر کيږي لکه حرام، مکروه، واجب فرض وغيره.

له حرام او فرض نه مراد شرعي حرام او فرض نه دي بلکه عرفي حرام او فرض ترې مراد دي.

بعضې د تجويد علماء وايي: چې مراد له دينه شرعي فرض او حرام وغيره دي لکه صاحب العميد، او نهاية القول المفيد په دې باندې تصريح کړې.

ددې تفصيل ما په خپل کتاب (الملخص الفريد في علم التجويد) کې کړی دی.



د لحن پیژندنه

د تجوید لغوي او اصطلاحي تعریفونه بیان شو اوس په دې لمعه کې د لحن بیان کیږي، ځکه د عربي مشهوره مقوله ده چې:

(تعرف الأشياء بأضدادها).

ژباړه: هر یو شی پیژندلی شي په خپل ضد (مقابل) سره .

نو د تجوید ضد لحن دی .

دلته د یوځو خبرو پیژندل ضروري دي .

1. د لحن تعریف .
2. د لحن ډولونه .
3. د لحن حکم.

د لحن تعریف

لحن په لغت کې لهجې، خوش اوازۍ او غلطۍ ته وایي.

او په اصطلاح د علم التجوید کې: قران کریم د تجوید د قواعدو نه خلاف لوستل، یا بې قاعدې او غلط لوستل .

د تجوید نه خلاف قران لوستل: یعني هغه حروف چې مشابه بالصوت وي په هغې کې غلطي کول، غلط لوستل ، یعني په حرکاتو او سکناتو کې غلطي کول، بې قاعدې لوستل، یعني صفات عارضه نه اداء کول .

د لحن ډولونه

لحن اولاً په دوه ډوله دی :

1. لحن جلي . 2. لحن خفي .

① جلي (ښکاره) لحن

ښکاره او غټې غلطۍ ته وايي چې د قرآن کريم په يو لفظ کې راشي د قرامت ظاهري شکل او د کلمې جوړښت ته تغيير ورکوي ، دا داسې غلطي وي چې په دې باندې هر خاص او عام پوهيږي لکه د "الحمد" په ځای "الهمد" ويل .

لحن جلي اقسام

لحن جلي په پنځه قسمه دی :

① د يو حرف په ځای بل حرف ويل لکه د وانحر په ځای وانهر ويل.

② د يو حرکت په ځای بل حرکت ويل لکه: د "صِراطَ" په ځای "صَرَاطَ" ويل.

③ زياتول د يو حرف يا کمول د يو حرف. لکه: د "قالُوْا" په ځای "قالُ" ويل او د "قَالَ" په ځای "قَالا" ويل.

④ ساکن کول د متحرک حرف او يا حرکت ورکول ساکن حرف ته. لکه :د "فَضَّلْنَا" په ځای "فَضَلَنَا" ويل يا د "خَلَقْنَا" په ځای "خَلَقَنَا" ويل.

⑤ بدلول د مخفف حرف په مشدد باندې يا بدلول د مشدد حرف په مخفف حرف باندې. لکه: د "مُطَاعٍ" په ځای "مُطَّاعٍ" ويل يا "دُرِّيٌّ" په ځای "دُرِيٌ" ويل.

د لحن جلي حکم

حکم د لحن جلي دادی چې دا حرام دې يعني ددې لوستل او اوريدل دواړه حرام دي او په بعضې ځايونو کې پرې لمونځ هم فاسديږي نوځکه دلحن جلي نه ځان ساتل فرض دي .

② خفي (پټه غلطي) لحن

لحن خفي هغې غلطۍ ته وايي چې هغه وړه او پټه وي لکه په حرف «راء» باندې چې زبر يا پيش راشي نو هغه به مفخمه (ډکه) ويل کيږي اوکه دا څوک مرققه

رتښه، ځایې نو دېته لحن خفي وايي، او په دې باندې ددې فن خاص ماهرین پوهیږي

د لحن خفي حکم

دا مکروه دې لیکن له دې څخه هم ځان ساتل ضروري دي .

• **خلاصه** ددې لمعې دا شوه: چې په مخارجو او صفات لازمه کې څه غلطي راشي نو دې ته لحن جلي وايي، او کله چې په یو حرف کې صفات عارضه ادا نشي نو دې ته لحن خفي وايي .

یادونه: د تلاوت په وخت کې د هغو عیوبو نه ځان ساتل پکار دي چې دهغو د ادا کولو په وجه تلاوت ته نقصان رسیږي او هغه دادي :

① **ترعید**: مد او حرکت کې اواز خوځول، مکروه - حرام .

② **تنفیش**: حرکات پوره نه اداء کول، مکروه .

③ **تعجیل**: د تیز والي له کبله حروف د یو بل څخه جدا کول ، حرام .

④ **تطنین**: ټول حروف په پوزه کې ادا کول چې دغنې یا د نون اواز پکې وي، حرام.

⑤ **تهمیز**: په هر حرف کې همزه اداء کول، حرام .

⑥ **تطویل**: حرکات او مدونه د خپل حد نه زیات راښکل، مکروه .

⑦ **همهمه**: مشدد مخفف او مخفف مشدد اداء کول، حرام.

⑧ **زمزمه**: د سندرو په طرز تلاوت کول اگر که د تجوید د قواعدو موافق وي، حرام .

⑨ **ترقیص**: آواز زنګول کله چې د تجوید نه خلاف وي، حرام .

⑩ **عنعنه**: همزه د عین سره یو ځای مخلوط اداء کول، حرام.

⑪ **اکزه**: بې ځایه إدغام کول . حرام .

⑫ **تمضيغ**: حروف ژول، مکروه .

⑬ **تعويق**: د کلمې په منځ کې وقف کول او بیا د ما بعد نه شروع کول ، حرام.

⑭ **وثبه**: حروف نيمه کې پرېښودل او مخکې شروع کول يعني تو پونه وهل، حرام .

محاسن التلاوة

د تلاوت په وخت کې ددې شپږو محاسنو لحاظ پکار دی چې هغه دادي :

① **ترتيل**: چې تلاوت په آرامه او إطمنان سره وکړای شي او د تجويد د قواعدو لحاظ وساتل شي .

② **تجويد**: قراني حروف د خپل مخرج نه د صفات لازمه او عارضه ؤ سره يوځای اداء کول .

③ **تبيين**: هر حرف واضح او صفا اداء کول .

④ **ترسيل**: الفاظ په نرمۍ سره وئيل او حروف پوره اداء کول او د حرف د پټولو او خوړلو نه ځان ساتل .

⑤ **تحسين**: د تجويد سره سره تلاوت په خوش اوازۍ سره کول دعربو د لهجې موافق.

⑥ **توقير**: په خشوع او خضوع او باوقاره تلاوت کول .

د تلاوت مراتب

① **ترتيل**:

د تلاوت پر مهال هر توري ته خپل حق ورکول دي چې له آرامه تلاوت کولوڅخه عبارت دی .لکه په جلسو او اجتماعاتو او تعليم په وخت کې چې کيږي، لکه دا ترتيل امام ورش عاصم او حمزه (رحمهم الله) اختيار کړی دی، او دې ترتيل ته بعضې قراء تحقيق او يا مشق هم وايي.

② **حدر:**

دې ته وايي چې تلاوت زر زر وکړی شي سره د تجويدي احکامو مراعت کولو، لکه په تراويحو کې چې کيږي، او دا حدر امام قالون او ابن کثير او ابو عمرو بصري (رحمهم الله) اختيار کړی دی.

③ **تدوير:**

دې ته وايي چې د ترتيل او د حدر په منځ کې وکړای شي چې نه د ترتيل په شان ډير په ورو وي او نه د حدر په شان ډير زر زر وي لکه په فرضي لمونځونو کې چې کيږي او دا تدوير ابن عامر او کسايي (رحمهما الله) غوره کړی دی.

نوټ: په دې درې واړه طريقو کې تطبيق د قواعدو د تجويد ډېر ضروري دی داسې نه چې حروف يو بل کې خلط يا ګډوډ شي يا مقدار کم يا زيات شي يا حرکات مجهول ادا کړای شي نو بيا داسې لوستل جائز نه دي.



د تعوذ (اعوذ بالله) او تسمیې (بسم الله) بیان

څرنګه چې تعوذ او تسمیه د تلاوت نه مخکې ویل کیږي .له دې وجې نه د دې احکام هم د تجوید په نورو احکامو مخکې ذکر کیږي

نو د قران کریم د شروع کولو نه مخکې تعوذ ویل ضروري دي ځکه الله ﷻ فرمائي ﴿ فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ ﴾.

ژباړه: کله چې ته اراده د لوستلو د قران کریم وکړې نو پناه وغواړه په الله ﷻ سره د شیطان رټل شوي نه .

د سورت نه مخکې تسمیه ویل ضروري دي .ځکه رسول الله (ﷺ) فرمائي:

"کل امر ذي بال لم یبدا ببسم الله الرحمن الرحیم فهو اقطع واجزم" .

ژباړه: هر هغه عظیم الشان کار چې بغیر د بسم الله نه شروع شي نو هغه لنډی بوچې وي یعني بې برکته وي .او تلاوت د قران کریم د ټولو نه لوی عمل دی.

حاصل دا شو چې د تعوذ محل ابتداء د تلاوت شو، او د تسمیې محل ابتداء ، د سورت شو، په دې لحاظ سره ابتداء په درې قسمه ده :

1. د تلاوت شروع د سورت د سر څخه.
2. د تلاوت شروع چې دسورت منځ وی.
3. د سورت شروع چې دتلاوت منځ وی .

- په اول قسم کې یعني ابتداء د تلاوت د سورت د شروع څخه وی په دې کې تعوذ او تسمیه دواړه ویل ضروري دي ځکه د دواړو محل موجود دی .
- په دوهم قسم کې یعني ابتداء د تلاوت چی.د سورت منځ وي په دې کې تعوذ ویل ضروري دي ځکه محل يې موجود دی او د تسمیې وئیلو کې

اختیار دی ونیل او نه ونیل ېې دواړه جائز دي لیکن ونیل یې غوره دي تبرکاً.

- په دریم قسم کې یعني ابتداء سورت چې د تلاوت منځ وی په دې کې تعوذ ونیل بالکل نشته ، ځکه محل یې نشته او تسمیه ونیل ضروري دي ځکه محل یې موجود دی، او که چېرې په دې دریم قسم کې سورت "براءة" راشي نو بیا پکې درې (۳) وجې جائز دي .

① وصل.

② فصل .

③ سکته .



لوړمه لمعه

د حروفو د مخارجو بيان

مخارج

مخارج جمع د مخرج ده، مخرج په لغت کې: موضع الخروج يعني ځای د وتلو ته وايي.

او په اصطلاح د علم التجويد کې:(هو موضع خروج الحرف) يعني دحرف دوتلو (اداء کولو) ځای ته مخرج وايي.

حرف

حرف په لغت کې: غاړې او طرف ته وايي.[1]

او په اصطلاح کې: (هو صوت يعتمد على مخرج محقق أو مقدر).

ژباړه: هغه انساني آواز چې اعتماد يې په مخرج محقق يا مقدر کيږي.

---

[1] دحرف اقسام: حروف په دوه قسمه دي: (۱) الحروف الأصلية (اصلي حروف). (۲) الحروف الفرعية (فرعي حروف).
الحروف الأصلية د هجاء حروفو ته وايي الف نه تر يا پورې. او دېته د هجاء حروف ځکه وايي، چې دا جدا جدا ونيل کيږي د حروف مقطعاتو په شان. بل دا چې حروف اصليه هغوحروفو ته وايي چې هغه مستقل بالذات وي او د خپل اصلي مخارجو نه اداء کيږي.
د الحروف الاصلية (اصلي حروفو) قسمونه: حروف اصليه هم په دوه قسمه دي: (۱) حروف المباني. (۲) حروف المعاني.
- حروف المباني د هجاء حروفو ته وايي يعني: (الف، با، تا، ثا) تر (يا) پورې.
- حروف المعاني هغوحروفو ته وايي چې هغه معنی لري. لکه:(إلى،من،ال،وغيره).

(۲) الحروف الفرعية (فرعي حروف): تعريف: (اي ما يتردد بين المخرجين).
هغه حروف چې مستقل بالذات نه وي بلکه د دوه اصلي مخارجو نه اداء کيږي.
د إمام حفص (رحمه الله) په نزد الحروف الفرعية پنځه دي:
1/: همزه مسهله. 2/: لام مفخمه. 3/: الف مما له.
4/: نون مخفاة. 5/: نون مدغم يا ادغام ناقص.

د مخرج اقسام

مخرج په دوه قسمه دي:

① محقق مخرج. ② مقدر مخرج.

د محقق مخرج تعريف

(هو : ماله جزء معين من أجزاء الحلق أو اللسان او الشفتين).

محقق مخرج هغه لپاره تاكلې حصه په مرى، ژبه او شونډو كې وي .

د مقدر مخرج تعريف

(هو : ما ليس له جزء معين من أجزاء الحلق أو اللسان او الشفتين).

مقدر مخرج لپاره تاكلې حصه په مرى، ژبه او شونډو كې نه وي .

- محقق مخرج پنځلس دي او مقدر مخرج دوه دي.

اصول د مخارجو

اصل هغې ځاى ته وايي چې په هغې كې د يو نه زيات مخارج وي او دېته مخارج كليه هم وايي او اصول المخارج ورته هم وايي .

د محقق مخارجو اصول

د محقق مخارجو اصول درې دي:

① الحلق(ستونى). ② اللسان (ژبه). ③ الشفتان (شونډې).

- په حلق كې درې مخارج دي او شپږ حروف ترې اداء كيږي .
- په لسان كې لس مخارج دي او اتلس حروف ترې اداء كيږي .
- او په شفتين كې دوه مخارج دي او څلور حروف ترې اداء كيږي .

او مقدر مخارج دوه دي: ① جوف الفم (دخولې خالى برخه) .

② خيشوم (د پوزى تنكى) .

د مخارجو تعداد

په تعداد د مخارجو کې د قراءو درې اقوال دي:

① د امام خلیل (رحمه الله) په نزد ټول مخارج اوولس (۱۷) دي. او دا قول د محققینو علماؤو دی، لکه إمام جزري وغیره.

② د امام سیبویه (رحمه الله) په نزد ټول مخارج شپاړس (۱۶) دي. ځکه دا د جوف الفم مخرج نه حسابوي.

③ د امام فراء (رحمه الله) په نزد ټول مخارج څوارلس (۱۴) دي. ځکه دا د جوف الفم مخرج هم نه حسابوي او د (ن، ل، ر) لپاره یو مخرج حسابوي.

امام خلیل (رحمه الله) او سیبویه (رحمه الله) د قرب لحاظ ندی کړی نو جدا جدا مخارج یې د (نون، لام، را) لپاره خودلي دي، او امام فراء (رحمه الله) د قرب لحاظ کړې دې نو یو مخرج یې ورته خودلي دي.

امام فراء او سیبویه (رحمهم الله) د مده او غیر مده یو مخرج ویلی دې، ځکه دوې وایي چې الف بالکل هوایي دې، او دا یې د همزې سره شامل کړې دې، ځکه چې د الف ابتداء د حلق نه کیږي.

او په واو او یا مده کې معمولي غوندې اعتماد په شونډو او ژبه کیږي ددې وجې نه یې د مده او غیر مده فرق ونکړ، او امام خلیل (رحمه الله) د قوت او ضعف لحاظ کړې دې نو یو جدا مخرج یې ورته بیان کړې دې.

د امام خلیل (رحمه الله) په نزد ټول مخارج اوولس (۱۷) دي او هغه دادي

① جوف الفم

د خولې دننه هغه خالي ځای ته وایي چې د خولې یوې خاصې حصې لره پکې دخل وي، او له دې نه حروف مده اداء کیږي.

الف ماقبل مفتوح لکه: قَالَ.

واو ساکن ماقبل مضموم لکه: قُوْلُوا.

يا ساکنه ماقبل حرف مکسور لکه قِيْلَ.

او دې ته حروف مده او حروف هوائيه او حروف جوفيه وايي (1)

(2) مخرج: اقصى الحلق

د مرۍ د اخري حصې نه سينې طرف ته، ددې نه (همزه، هاء) اداء کيږي.

(3) مخرج: وسط الحلق

د مرۍ د مينځ نه (عين، حاء) مهملتين (بې نقطې) اداء کيږي.

(4) مخرج: ادنى الحلق

د مرۍ د اولې حصې نه خولې طرف ته ددې نه (غين، خاء) معجمتين (د نقطې والا) اداء کيږي.

دې شپږو حروفو ته حروف حلقيه يعني د مرۍ حروف وايي، او دې ته (حروف مظهره) او (بيانيه) هم وايي.

(5) مخرج: اللهاة

د حلقې ژبې سره متصل د ژبې بېخ چې کله پاس تالو سره ولګيږي ددې نه (قاف) اداء کيږي.

(6) مخرج: د قاف د مخرج سره

متصل لږ خولې طرف ته د ژبې بېخ چې کله پاس تالو سره ولګيږي ددې نه (کاف) اداء کيږي او دې دواړو حروفو ته (حروف لهاتيه) او (حروف لهويه) وايي،

---

(1) حروف مده ورته حٔکه وايي: چې ددې حروفو په اصل کې صفت مديت پروت دی چې ددې نه بغير دا حروف نه اداء کيږي.
حروف هوائيه ورته حٔکه وايي: چې ددې حروفو آواز په هواء هواء کې انتها ته رسيږي. لکه إمام جزري (رحمه الله) فرمايي:
(وهي حروف مد للهواء تنتهي). ژباړه: دحروف مده آواز په هوا هوا کې انتها ته رسيږي.
حروف جوفيه ورته حٔکه وايي: چې دا حروف د جوف يعني د خولې دننه خالي ځای نه اداء کيږي.
د الف او د همزې په منځ کې فرقونه: د الف او د همزې په منځ کې څلور فرقونه دي:
1. الف همېشه لپاره ساکن وي لکه: قَالَ، او په همزه باندې حرکات سکنات راځي لکه: اَلْحَمْدُ.
2. الف په نرمۍ سره اداء کيږي لکه: کَانَ او همزه په سختۍ سره اداء کيږي لکه: کَأَنَّ.
3. الف د کلمې په منځ او اخر کې راځي او د کلمې په اول کې نه راځي لکه: بَصِيْرًا کَانَ، او همزه د کلمې په اول منځ او اخر درې واړو کې راځي لکه: اقرأ، يَلْسما.
4. الف همېشه لپاره په يو شکل کې راځي لکه: قَالَ، او همزه په مختلفو شکلونو سره راځي لکه: اَلحمد، يؤمن، يستهزئ.

يعني د حلقي ژبې حروف ورته وايي.

⑦ **مخرج: وسط اللسان**

يعني د ژبې منځ او پاس تالو نه (ج، ش، ي غير مده) اداء کيږي يعني ياي لين او ياي متحرکه او دې ته (حروف شجريه) وايي.

- دشجر معنی: ونه ده، يعني ونه هم هر وخت لمده وي او دا حروف چې د کوم ځای نه اداء کيږي يعني د ژبې منځ دغه ځای هم هر وخت لوند وي.

بله وجه داده چې د ژبې منځ ته هم (شَجْرِ اللسان) وايي په سکون د جيم سره.

د غاښونو نومونه

روسته چې کوم مخارج را روان دي نو د هغې عام طور سره تعلق د غاښونو سره دی ددې وجې نه اول د غاښونو نومونه پيژندل ضروري دي چې وروسته بيا په پوهيدلو کې مشکل نه وي، نو د انسان په خوله کې دوه ديرش غاښونه دي او د هغې لپاره شپږ نومونه دي:

① ثنايا. ② رباعيات. ③ انياب.

④ ضواحك. ⑤ طواحن. ⑥ نواجذ.

- په خوله کې مخامخ څلور غاښونو ته (ثنايا) وايي، دوه پاسنيو ته (ثنايا عليا) او دوه لاندينو ته (ثنايا سفلى) وايي.
- د (ثنايا) په خوا کې څلور غاښونه نور دي يو بره ښي طرف ته يو چپ طرف ته، يو لاندې ښي طرف ته يو چپ طرفته دې ته (رباعيات او قواطع) وايي.
- د رباعياتو په خوا کې څلور غاښونه دي يو بره ښي طرف ته يو چپ طرف ته، يو لاندې ښي طرف ته يو چپ طرف ته دې ته (انياب او کواسر) يعني ماتونکي وايي.
- د انيابو په خوا کې څلور غاښونه نور دي يو بره ښي طرف ته يو چپ طرف ته، دوه لاندې يو ښي طرف ته يو چپ طرف ته دې ته (ضواحك) وايي.

- بيا د ضواحكو په خوا كې دولس غاښونه نور دي شپږ بره درې ښي طرف ته درې چپ طرف ته، شپږ لاندې درې ښي طرف ته او درې چپ طرف ته دې ته (طواحن) وايي .
- بيا د طواحنو په اخر كې څلور غاښونه دي هغه هم په همدې ترتيب سره دې ته (نواجذ) وايي .
- دې اخري درې واړه ډولونو ته يعني: ضواحک، طواحن، نواجذ، دې ته (اضراس)، يعني ژامه وايي.

د ژبې مختلفي حصې

د غاښونو د نومونو پيژندلو نه وروسته د ژبې د مختلفو حصو نومونه پيژندل هم ضروري دي. نو ژبه په شپږو حصو تقسيميږي :

1. اقصى اللسان. د ژبې بېخ.
2. وسط اللسان: د ژبې منځ .
3. حافة اللسان: د ژبې ډډه.
4. طرف اللسان: د ژبې غاړه .
5. راس اللسان: دژبې سر .
6. ظهر اللسان: د ژبې شاه .بره طرف ته

⑧ مخرج: حافة اللسان مع أضراس عليا

د ژبې ډډه چې د اضراس عليا د بېخونو سره ولګيږي ددې نه (ضاد) اداء كيږي، كه ښي طرف ته وي او كه چپ طرف ته وي، ليكن د چپ طرف نه په اسانه اداء كيږي .

او كه د دواړو طرفونو نه وي، ليكن د دواړو طرفونو نه يوځاى اداء كول يې ډير مشكل وي اودې حرف ته حرف (حافية، حرف ضرسيه او حرف مستطله) او اصعب الحروف او حرف العربية وايي .

⑨ مخرج: طرف اللسان

يعني د ژبې غاړه او لږه حصه د حافة اللسان او د ثنايا، رباعيات، انياب، ضواحكو د اورو نه لږ شان مائيله تالو طرف ته ددې نه (لام) اداء كيږي .

که ښي طرف نه وي او که چپ طرف نه او که د دواړو طرفونو نه وي . ليکن د ښي طرف نه په اسانه اداء کيږي

فائده: حافه په دوه ډوله ده:

① أدنى حافه. ② أقصى حافه.

أدنى حافه: د ژبې هغې حصې ته وايي کومه چې د ضواحکو په مقابله کې وي .

أقصى حافه: د ژبې هغې حصې ته وايي کومه چې د نواجذو په مقابله کې وي .

حاصل دا شو چې په حرف (ضاد) کې أدنى حافه او أقصى حافه دواړه لګيږي او په حرف (لام) کې فقط أدنى حافه لګيږي .

⑩ **مخرج**: (نون)

دا أداء کيږي د ژبې غاړه او د ثنايا رباعيات انياب د اورو نه يعني په دې مخرج کې ضواحک شامل ندي

⑪ **مخرج**: (را)

دا أداء کيږي د ژبې غاړه او لږه حصه د ژبې د شاه نه او د ثنايا رباعيات د اورو نه او دې درې حروفو ته (حروف طرفيه) يعني د ژبې د غاړې حروف، او (حروف ذلقيه يا ذولقيه) ورته هم وايي .

فائده: امام خليل او سيبويه رحمهما الله چې د (لام، نون، را) لپاره جدا جدا مخارج بيان کړي دي د هغې وجه دا ده:

د لام او نون په منځ کې د مخرج په اعتبار سره فرق شته دی.

- په لام کې د څلورو غاښونو دخل دی :

① ثنايا. ② رباعيات. ③ انياب. ④ ضواحک، او په نون کې ضواحکو لره دخل نشته د لام په أدا کولو کې ژبه د هغې اورو سره لګيږي کومه چې تالو طرف ته وي، يعني تالو طرف ته مايله وي او په نون کې ژبه د هغې اورو سره لګيږي کومه چې غاښونو طرف ته وي .

د نون او را په مينځ کې فرق

① د نون په أدا کولو کې ژبه د هغې اورو سره لګيږي کومه چې غاښونو طرف ته وي .
او د حرف راء په أدا کولو کې ژبه د هغې اورو سره لګيږي کومه چې د لام او نون مخرج په منځ کې وي .

② د حرف راء په أدا کولو کې (ظهر لسان) لره دخل شته ، او د نون په أدا کولو کې (ظهر لسان) لره دخل نشته .

يادګيرنه: د حرف لام په أدا کولو کې ثنايا ، رباعيات، انياب، ضواحک شامل دي او د نون په أدا کولو کې ثنايا ، رباعيات، انياب شامل دي او د حرف راء په أدا کولو کې ثنايا ، رباعيات شامل دي، په نون کې ضواحک نشته او په حرف راء کې ضواحك او انياب نشته[1]

⑫ مخرج. (طاء، دال، تاء)

دا أداء کيږي د ژبې سر او د ثنايا عليا بېخونو نه او دې حروفو ته (حروف نطعيه) يعني د ډوغل حروف وايي.

⑬ مخرج: (ظاء، ذال، ثاء)

دا أداء کيږي د ژبې سر او د ثنايا علياد دننه کنارو نه يعني د سرونو نه او دې حروفو ته (حروف لثويه) يعني د اورو حروف وايي.
او لثويه ورته ځکه وايي چې ددې مخرج اورو ته نژدې دی .

⑭ مخرج: (ص، ز، س،)

دا أداء کيږي د ژبې سر او ثنايا سفلی د دننه کنارو نه او لږه حصه د يوځای کيدو د ثنايا عليا نه او دې حروفو ته (حروف صفيريه او حروف اسليه) وايي.

---

① ددې مخارجو پوره تحقيق ما په ملخص الفريد في علم التجويد کې کړی دی.

⑮ **مخرج: (فاء)**

دا أداء کیږي د لاندې شونډې خیټه او د ثنایا علیا د کنارو یعني سرونو نه .

⑯ **مخرج: (باء، میم، واو)**

غیر مده یعني واو متحرکه او واو لین ادا کیږي د دواړو شونډو نه .

- (باء) د دواړو شونډو د لمدې حصې نه په سختۍ سره أداء کیږي ددې وجې نه ورته (بحري) حرف وایي.
- (میم) د دواړو شونډو د وچې حصې نه په نرمۍ سره أداء کیږي ددې وجې نه ورته (بري) حرف وایي.
- (واو) أداء کیږي د دواړو شونډو نه یعني ددې حرف په أداء کې د شونډو غاړې بندې او منځ یې یوله بلې څخه لرې وي .

دې څلورو حروفو ته (حروف شفویه او حروف شفهیه) وایي، شفویه او شفهیه ورته ځکه وایي چې دا د شونډو نه أداء کیږي.

⑰ **مخرج: د خیشوم**

د پوزې د بېخ نه غنه أداء کیږي، غنه په دوه ډوله ده ؛

① غنه اني . ② غنه فرعي یا غنه زماني .

- غنه اني: وخت او اراده نه غواړي په خپله أداء کیږي .
- غنه زماني: وخت او إراده غواړي .

د غنې فرعي بیان

غنه په لغت کې عبارت ده له: (**هو صوت الغزالة اذا ضاعت ولدها**) یعني غنه د هوسۍ هغه آواز ته وایي کوم چې د بچي د ضایع کیدلو په وخت کې راوباسي .

او په اصطلاح کې غنه: (**هو صوت یخرج من الخیشوم ولا عمل للسان فیه**).

ژباړه: دا یو آواز دی چې راوځي د پوزې نه او په دې کې ژبه داخله نده .

د غنه فرعي (زماني) قسمونه

غنه زماني په دوه ډوله ده:

① غنه صفتي. ② غنه حرفي.

غنه صفتي: دې ته ويل كيږي چې هغه په (ميم، او نون) مشدد كې وي.

غنه حرفي: دې ته ويل كيږي چې هغه په نون مخفاة او ميم مخفاة او نون مدغم با ادغام ناقص كې كيږي.

- غنه حرفي هم په دوه ډوله ده:

① غنه مفخمه. ② غنه مرققه.

غنه مفخمه: هر كله چې د نون ساكن او تنوين نه ؤروسته حروف مستعليه راشي نو په دغه نون ساكن او تنوين كې به غنه مفخمه كيږي لكه:
(من قبل، عليماً قديراً).

غنه مرققه: هر كله چې د نون ساكن او تنوين نه ؤروسته حروف مستفله راشي نو په دغه نون ساكن او تنوين كې به غنه مرققه كيږي لكه: (إن كنتم).[1]



① ددې نور تحقيق په هداية القاري – او احكام قراءة القرآن الكريم كې كتلى شئ.



د صفاتو بیان

د صفت تعریف

صفات د صفت جمع ده، او صفت په لغت کې: (ما قام بشيء من المعاني کالعلم والسواد) ته وايي.

یعني هر هغه شی چې په بل څیز پورې نښتی وي او مستقل بذاته نه وي په اعتبار د معنی سره لکه علم د عالم پورې او تور والی په یو شي پورې.

او په اصطلاح کې ویل کیږي: (الصفة هي کیفیة عارضة للحرف عند حصوله في المخرج کالهمس والجهر والإخفاء والغنة وغیرها).

ژباړه: دا صفت یو حالت دی چې پیښیږي حروفو ته په وخت د أداکولو ددې حرف د خپل مخرج نه لکه: آواز ښکته کیدل, اواز لوړیدل، أخفاء غنه وغیره.

د صفاتو اقسام

صفات په دوه ډوله دي: ① صفات لازمه. ② صفات عارضه.

① صفات لازمه

چې همیشه په حرف کې لازم او پیوست وي او د حرف نه په هیڅ حالت کې نه جدا کیږي او که دا صفات په یو حرف کې أدا نه شي نو هغه حرف یا ختمیږي او یا په بل حرف سره بدلیږي یا ناقص أداء کیږي یا ترې یو عجمي حرف جوړیږي. او دې ته صفات لازمه، صفات ذاتیه، صفات مقومه او صفات ممیزه وايي.①

① صفات لازمه ورته ځکه وايي چې دا همیشه په حرف کې لازم او پیوست وي.
صفات ذاتیه ورته ځکه وايي چې دا د حرف ذات سره تعلق ساتي.
صفات مقومه ورته ځکه وايي چې ددې په وجه دا حروف قائم یعنې ولاړ وي.
صفات ممیزه ورته ځکه وايي چې دا جدا وال راولي په هغه حروفو کې چې د هغې حروفو مخرج یو وي.

② صفات عارضه

هغه صفاتو ته وايي چې هغه په حرف کې هر وخت لازم نه وي، بلکه کله به په يو حرف کې وي او کله به نه وي او که چېرې دا صفات عارضه په يو حرف کې أدا نشي نو هغه حرف خو ختميږي نه ، بلکه د هغې حرف هغه ښايست او زينت له منځه خي، له دې وجې نه دي ته (صفات عارضه، صفات مزينه او صفات محسنه او صفات مُحليه يا مَحليه) وايي .

د صفات عارضه معنی

دا صفات به کله په يو حرف کې وي او کله به نه وي.

صفات مزينه او صفات محسنه او صفات مُحليه ورته ځکه وايي چې دا په حرف کې ښايست اوزينت پيدا کوي او که مَحليه ورته وئيلى شي په فتحې د ميم سره نو بيا يې دا معنى ده چې دا صفات په خاصو ځايونو کې کارول کيږي او په هر ځاى کې نه وي.

د صفات لازمه اقسام

صفات لازمه اولس (١٧) دي او دا په دوه ډوله دي:

① صفات لازمه متضاده . ② صفات لازمه غير متضاده .

- صفات لازمه متضاده: دې ته وايي چې هغه د يو بل ضد او مقابل وي .
- صفات لازمه غير متضاده: هغه دې چې د يو بل ضد او مقابل نه وي .

صفات لازمه متضاده اقسام

صفات لازمه متضاده لس (١٠) دي او هغه دادي:

① همس. ② جهر. ③ شدت. ④ رخوت، توسط.
⑤ استعلاء. ⑥ استفال. ⑦ اطباق. ⑧ انفتاح.
⑨ اذلاق. ⑩ اصمات.

- دا لس صفات دي او پنځه جوړې دي

اوله جوړه	همس او جهر
دوهمه جوړه	شدت، توسط رخوت
دريمه جوړه	استعلاء او استفال
څلورمه جوړه	اطباق او انفتاح
پنځمه جوړه	اذلاق او اصمات

په دې هره يوه جوړه کې دا يو صفت د بل صفت ضد او مقابل دی.

د صفات لازمه غير متضاده اقسام

صفات لازمه غير متضاده اوه(۷) دي او هغه دادي:

① صفير. ② قلقله. ③ لين. ④ انحراف.

⑤ تکرير. ⑥ تفشي. ⑦ استطالت.

صفات لازمه متضاده کې چې کومې دوه دوه جوړې دي نو دا نهه ويشت حروف ددې نه بهر نه دي بلکه څومره چې حروف دي د مقابل صفتونو څخه به په کی يو نه يو صفت لازمًا وي، يعني که په کومو حروفو کې صفت د همس وي نو په باقي حروفو کې به د هغې مقابل صفت جهر لازمًا وي، او په صفات لازمه غير متضاده کې دا خبره ضروري نه ده بلکه په يو حرف کې به يو صفت وي او په باقي حروفو کې به نه دغه صفت وي او نه به په کې د هغې ضد او مقابل وي.

لکه په حرف (سين) کې صفت د صفير دی نو په باقي حروفو کې به نه دغه صفت وي او نه به په کې د هغې ضد او مقابل وي.

صفات لازمه متضاده تفصيل

دي ته صفات ذوات الاضداد هم وايي او تفصيل ئې په لاندې ډول دې:

① همس

همس په لغت کې کمزوري او ټيټول د آواز ته وايي.

او په اصطلاح کې دادی چې ددې حروفو ادا کولو په وخت کې آواز په مخرج کې په داسې کمزورۍ سره حصار شي چې ساه به جاري وي او په آواز کې به یو قسم کمزوري او ښکته والی وي او داسې حروف لس (۱۰) دي چې مجموعه یې ده (فحثه شخص سکت).

② جهر

جهر په لغت کې قوت او ښکاره والي ته وایي

او په اصطلاح کې دادی چې ددې حروفو د أدا کولو په وخت کې آواز په مخرج کې په داسې قوت سره ودریږي چې ساه جاري کیدل بند شي او په آواز کې یو قسم قوت او لوړوالی پیدا شي. او د مهموسه نه علاوه باقي ټول حروف مجهوره دي او دا دواړه صفتونه یعني همس او جهر د یو بل ضد او مقابل دي او مجهوره حروف ټول نولس (۱۹) دي چې مجموعه یې داده:

(عظم وزن قارئ ذي غض جد طلب).

فایده: په حروف مهموسه کې ساه زیاته وي او آواز کم وي او په آواز کې یو قسم کمزوري وي، او په حروف مجهوره کې آواز زیات وي او ساه کمه وي او په آواز کې یو قسم قوت او لوړوالی وي.

③ شدت

شدت په لغت کې سختۍ ته وایي.

او په اصطلاح کې: دادی چې ددې حروفو د أدا کولو په وخت کې آواز په مخرج کې په داسې قوت او سختۍ سره ودریږي چې آواز بند شي او په آواز کې یو قسم سخت والی پیدا شي او دا حروف اته دي چې مجموعه یې ده: (اجد قط بکت).

④ رخوت

رخوت په لغت کې نرمۍ ته وایي.

او په اصطلاح کې: ددې صفت دادی چې ددې حروفو د أدا کولو په وخت کې آواز په مخرج کې په داسې کمزوری سره ودرېږي چې آواز جاري وي او په آواز کې یو ډول نرمي پیدا شي او د شدیده او متوسطه نه علاوه باقي ټول حروف رخوه دي،

او رخوه حروف شپاړس دي چې مجموعه یې ده:

(خذ، غث، حظ، فض، شوص، زي، ساه).

⑤ توسط

توسط په لغت کې منځنۍ ته وایي .

او په اصطلاح کې: دادی چې ددې حروفو د أدا کولو په وخت کې آواز په مخرج کې نه د شدت په څېر پوره بند وي او نه د رخوت په شان پوره جاري وي بلکه د شدت کامله او رخوت کامله په منځ کې أداء کیږي، یعني په دې حروفو کې شدت ناقصه او رخوت ناقصه وجود لري او دا صفت توسط ځان ته مستقل صفت نه حسابیږي ځکه په دې کې څه صفت شدت دی او څه په کې صفت رخوت دی او داسې حروف پنځه دي چې مجموعه یې ده: (لن عمر).

د ساه او اواز بندیدلو او جاري کیدلو په اعتبار د حرف قسمونه

د ساه بندیدلو او جاري کیدلو په اعتبار سره حروف په پنځه ډوله دي:

① مهموسه رخوه ،دا حروف اته دي چې مجموعه یې ده: (فحثه شخص س).

② مجهوز شدیده، دا حروف شپږ دي چې مجموعه یې ده: (اجد قطب).

③ مجهوره رخوه، دا حروف هم اته دي چې مجموعه یې ده: (غازي ذو ضظ).

④ مهموسه شدیده ، دا حروف دوه دي چې مجموعه یې ده: (كت).

⑤ مجهوره متوسطه، دا حروف پنځه دي چې مجموعه یې ده: (لن عمر).

اعتراض: په حرف کاف او حرف تاء کې د همس د وجې نه ساه جاري وي او د شدت د وجې نه په کې آواز بند شي نو ذهن کې دا شک پیداشي چې څنګه دې په یو حرف کې هم ساه جاري وي او هم دې په کې آواز بند وي؟.

جواب: په دې دواړو حروفو کې صفت همس ضعيف دی او شدت په کې قوي دی نو د شدت د قوت دوجې نه به په کې آواز بنديږي ليکن د څه اندازې همس د وجې نه به په کې د آواز بنديدلو سره لږه ساه هم جاري وي.

بله وجه داده: چې ساه به هغه وخت نه جاري کيده چې ساه او آواز دواړه په يو وخت کې جاری کيدلی يا بنديدلی، ليکن دلته د دواړو وختونه جدا جدا دي، آواز په اعتبار د ابتداء سره دی او ساه په اعتبار د انتهاء سره ده.

نو د صفت شدت د وجې نه به پکې آواز يکدم بند شي. ليکن د څه اندازې همس د وجې نه به پکې لږه اندازه ساه جاري وي ليکن ساه جاري کيدلو کې دا احتياط کول پکار دی چې آواز ورسره جاري نشي ،که چېرې آواز ورسره جاري شي نو بيا به دا حروف شديده نشي بلکه رخوه به شي ، او بل دا چې په اخر کې به يې د (ها) آواز پيدا شي نو غلط به شي. (1)

⑥ استعلاء

استعلاء په لغت کې اوچتوالي ته وايي.

او په اصطلاح کې: دادی چې ددې حروفو د أداء کولو په وخت کې د ژبې بېخ پاس تالو طرف ته پورته کيږي چې ددې وجې نه دا حروف مفخم ويل کيږي.

او داسې حروف اوه (۷) دي چې مجموعه يې ده:(خص ضغط قظ).

⑦ استفال

استفال په لغت کې ټيټوالي ته وايي.

او په اصطلاح کې :دادی چې ددې حروفو د أداء کولو په وخت کې د ژبې بېخ پاسني تالو ته نه پورته کيږي. چې ددې وجې نه دا حروف مرقق ويل کيږي او د مستعليه نه علاوه باقي ټول حروف مستفله دي او دا دواړه صفتونه هم د يو بل ضد او مقابل دي او داسې حروف دوه ويشت (۲۲) دي چې مجموعه يې ده:

---

(1) صفت شدت په دې دواړو حروفو کې په حالت د ابتداء کې ښه ظاهريږي او صفت همس پکې په حالت د انتهاء کې ښه ظاهريږي.

(ثبت عز من يجود حرفه اذ سل شكا).

فايده: په دې دوه ويشتو حروفو مستفله کې دا خبره بايد هيره نشي چې دا درې حروف يعني: (لام، الف، را) دا به کله کله د څه عذر د وجې نه مفخم ویل کیږي، ددې وجې نه دې درې واړه حروفو ته شبه مستعليه حروف وايي.

(الف) چې کله د مفخم حرف نه ؤروسته راشي نو دغه الف به مفخم ویل کیږي ددغې مفخم حرف د وجې نه،

او د (لام) او (را) د تفخيم قواعد به ؤروسته راځي، إن شاء الله

8 اطباق

اطباق په لغت کې پيوستوالی ته وايي.

او په اصطلاح کې: دادی چې ددې حروفو د أدا كولو په وخت کې د ژبې منځ پاسني تالو سره پيوست کيږي. چې ددې وجې نه دا حروف مفخم ويل کيږي ځکه په دې حروفو کې هم صفت استعلا دې او هم پکې صفت د اطباق دی.

نو صفت استعلا عام دی او صفت اطباق خاص دی. يعني هر حرف مطبقه مستعليه دی او هر حرف مستعليه مطبقه ندی ځکه: (غين، خا، قاف) مستعليه دي او مطبقه ندي او داسي حروف څلور دي: (طاء، ظاء، صاد، ضاد).

9 انفتاح

انفتاح په لغت کې خلاصيدو او پراخيدو ته وايي.

او په اصطلاح کې: دادی چې ددې حروفو د أدا كولو په وخت کې د ژبې منځ د پاسني تالو نه جدا وي. چې ددې وجې نه دا حروف باريک ويل کيږي او د مطبقه نه علاوه باقي ټول حروف منفتحه دي او دا دواړه صفتونه هم د يو بل ضد او مقابل دي او منفتحه حروف پنځه ويشت (۲۵) دي چې مجموعه يې دا:

(من اخذ وجد سعة فزكا حق له شرب غيث).

دتفخیم او ترقیق په اعتبار سره حروف په درې ډوله دی

① **مستعلیه مطبقه**، داسې حروف څلور دي:

(ص، ض، ط، ظ) د صفت استعلا د وجې نه په دې حروفو کې د ژبې بېخ پاس تالو طرف ته پورته کېږي او د صفت اطباق د وجې نه په کې د ژبې منځ پاسني تالو سره پیوست کېږي، او په دې حروفو کې اعلی درجه تفخیم دی.

② **مستعلیه منفتحه**، دا حروف درې دي:

(غ، خ، ق) په دې حروفو کې به د صفت استعلا د وجې نه د ژبې بېخ پاسني تالو طرف ته پورته کېږي لیکن د صفت انفتاح د وجې نه به د ژبې منځ پاس تالو نه جدا وي چې ددې وجې نه په دې حروفو کې تفخیم لږ کم وي او په دې حروفو کې دوهمه درجه تفخیم دی.

③ **مستفله منفتحه**، دا حروف دوه ویشت (۲۲) دي چې مجموعه یې دا ده:

(ثبت عز من یجود حرفه اذ سل شکا).

په دې حروفو کې به د صفت استفال د وجې نه د ژبې بېخ دپاس تالو نه جدا وي او د صفت انفتاح د وجې نه به پکې د ژبې منځ د پاسني تالو نه جدا وي چې ددې وجې نه دا حروف باریک وېل کېږي، بغیر د شبه مستعلیه حروفو نه چې هغه مخکې ذکر شوي دي.[1]

---

[1] اعتراض: په حرف (جیم، شین، یاء) کې هم د ژبې منځ پاس تالو طرف ته پورته کېږي دا یې ولې په حروف مطبقه کې ذکر نه کړه؟.
جواب: په دې حروفو کې د ژبې منځ پاسني تالو ته پورته کېږي لیکن دا پورته کېدل په اعتبار د مخرج سره دي نه په اعتبار د صفت سره. بله وجه داده چې په حروف مطبقه کې د ژبې منځ سره د ژبې بېخ هم پاسني تالو ته پورته کېږي او په دې حروفو کې فقط د ژبې منځ پاسني تالو ته پورته کېږي.
بل اعتراض: هغه دا چې په حرف (کاف) کې خو هم د ژبې بېخ پاسني تالو ته پورته کېږي دایې ولې په حروف مستعلیه کې ذکر نه کړه په حرف کاف او حرف قاف کې څه فرق دی؟.
جواب: په دې دواړو حروفو کې دا فرق دی چې په حرف قاف کې د ژبې بېخ پاسني تالو ته پورته کېږي . هم په اعتبار د مخرج سره او هم په اعتبار د صفت سره او په حرف کاف کې د ژبې بېخ پاسني تالو طرف ته پورته کېږي په اعتبار د مخرج سره نه په اعتبار د صفت سره.
څکه د استعلا له تعریف نه دا معلومیږي چې دا حروف به مفخم وېل کېږي او دا تفخیم په حرف قاف کې شته او په حرف کاف کې نشته.

فايده: حروف مستعليه په اعتبار د تفخيم سره په پنځه ډوله دي:

① چې دا حروف مستعليه مفتوح وي او ورسته ترې الف وي لکه: (قَالَ ، ضَآلِين).

② چې کله دا حروف مستعليه مفتوح وي او وروسته ترې الف نه وي لکه: (طَبَعَ، صَبَرَ).

③ چې کله دا حروف مستعليه مضموم وي لکه: (بِضُر، قُوْلُوْ).

④ چې کله دا حروف ساکن وي لکه: (نَخْسِف، يَظْهَرُوْن).

⑤ چې کله دا حروف مکسور وي لکه: (صِرَاطَ، قِيْلَ، تَغِيض).

پورتني اقسام د تفخيم مراتب په شبه مستعليه حروفو کې هم دي ليکن پنځمه درجه په حالت د کسرې کې دا په شبه مستعليه حروفو کې نشته ځکه بيا د شبه مستعليه حروفو تفخيم ختميږي.

⑩ اذلاق

اذلاق په لغت کې ښوېدلو ته وايي.

اصطلاح: چې دا حروف د شونډو او د ژبې د کنارو نه په اسانۍ او چټکۍ سره أداء کيږي او داسې حروف شپږ (۶) دي چې مجموعه يې ده: (فر من لب).
په دې حروفو کې چې کوم حروف شفويه دي هغه د شونډو د کنارو نه او کوم چې حروف طرفيه دي هغه د ژبې د کنارو نه په اسانۍ او زر أداء کيږي.

⑪ اصمات

اصمات په لغت کې چپ کيدلو يا مضبوطيدلو ته وايي.

او په اصطلاح کې :دادی چې دا حروف د خپل مخرج نه په مضبوطی سره اداء کيږي او په اسانۍ او زر نه اداء کيږي، او د مذلقه نه علاوه باقي ټول حروف مصمته دي.

او دا داوړه صفتونه هم د يو بل ضد او مقابل دي او داسې حروف درويشت (۲۳) دي چې مجموعه يې ده:

(جز غش سا خط صد ثقة إذو عظه يحضك).

د صفات لازمه غير متضاده تفصيل

صفات لازمه غير متضاده اوه(۷) دي هغه دادي:

1 صفير

په لغت کې شپېلۍ ته وايي .

او په اصطلاح کې : دادی چې ددې حروفو د أداء کولو په وخت کې يو تيز آواز د شپيلۍ په څېر اوځي او داسې حروف درې دي: (ص، زا، س) بيا ددې صفت صفير لپاره درې درجې دي :

- **اعلى درجه**: صفير په حرف ((صاد)) کې دی د وجې د اطباق او استعلا نه .
- **متوسطه درجه**: صفير په حرف ((زا)) کې دی د وجې د جهر نه.
- **ادنى درجه**: صفير په حرف ((سين)) کې دی د وجې د همس نه.

2 قلقله

په لغت کې خوزيدو او حرکت ته وايي .

او په اصطلاح کې :دادی چې ددې حروفو د أداء کولو په وخت کې په حالت د سکون کې په مخرج کې يو ډول حرکت او ټکان پيدا کيږي او داسې حروف پنځه دي چې مجموعه يې ده :(قطب جد)

ليکن ددې تعريف نه دا نه معلوميږي چې په حالت د حرکت کې به قلقله نه وي بلکه له دې نه دا معلوميږي چې په حالت د سکون کې به قلقله زياته وي او په

حالت د حرکت کي به قلقله کمه وي لیکن د قلقلي نه دا حروف نه خالي کیږي، ځکه قلقله ددي حروفو لپاره صفت لازمه دی او صفت لازمه ددي حروفو نه نه جدا کیږي.

د قلقلي درجي

د قلقلي د پاره پنځه درجي دي:

① چي کله دا حروف مشدد او موقوف علیه وي لکه: (بالحقِّ، وتبَّ).

② چي کله دا حروف ساکن او موقوف علیه وي لکه: (إن یسرقْ، العقدْ).

③ چي کله دا حروف مشدد او غیر موقوف علیه وي لکه: (الحقُّ مِن ربك).

④ چي کله دا حروف ساکن او غیر موقوف علیه وي لکه: (خلقْنا).

⑤ چي کله دا حروف متحرک وي لکه: (قُلْ، بَلْ) وغیره.

د بعضی قراء په نیز د قلقلي لپاره څلور درجي دي

① **ادنی قلقله**: په دي حروفو کي په هغه وخت کي کیږي چي کله دا حروف مشدد یا متحرک وي لکه: (الحقُّ من ربك، قُلْ، بَلْ) وغیره.

② **صغری قلقله**: په دي حروفو کي په هغه وخت کي کیږي چي کله دا حروف ساکن او غیر موقوف علیه وي لکه: (خلقْنا).

③ **وسطی قلقله**: په دي حروفو کي په هغه وخت کي کیږي چي کله دا حروف ساکن او موقوف علیه وي لکه: (إن یسرقْ، العقدْ).

④ **کبری قلقله**: په دي حروفو کي په هغه وخت کي کیږي چي کله دا حروف مشدد او موقوف علیه وي لکه: (بالحقِّ، وتبَّ).

بیا په دي پنځه حروفو کي اعلی درجه قلقله په حرف (قاف) کي ده او په باقي څلورو حروفو کي متوسطه درجه قلقله ده.

یعني په حرف (قاف) کې اکمله قلقله ده، او په باقي حروفو کې کامله قلقله ده.(1)

(3) لین

په لغت کې نرمۍ ته وايي.
او په اصطلاح کې: دادی چې دا حروف د خپل مخرج نه په نرمۍ سره أداء کیږي او که څوک په کې مد کول و غواړي نو کولای شي، او داسي حروف دوه دي:

(1) واو ساکن ماقبل مفتوح لکه: (خَوْف).

(2) یاء ساکنه ماقبل مفتوح لکه: (صَیْف).(2)

(4) انحراف

په لغت کې بیرته ګرځیدلو او میلان کولو ته وايي.
او په اصطلاح کې: دادی چې ددې حروفو د أدا کولو په وخت کې په حرف (لام) کې د ژبې کناري طرف ته میلان کیږي او په حرف (را) کې د ژبې شاه طرف ته او لږه حصه د ژبې کناري طرف ته یعني د (لام) مخرج طرف ته میلان کیږي. او داسي حروف دوه دي: (لام، را).

(5) تکریر

په لغت کې باربار وېلو ته وايي.
او په اصطلاح کې: دادی چې ددې حرف د أداء کولو په وخت کې په ژبه کې یو ډول رېږدل پیدا کیږي. دا صفت فقط په حرف (را) کې موندل کیږي

(1) د قلقلې د لاربات تحقیق لپاره هدایة القاري – نهاية القول المفيد کتلای شی.

(2) اعتراض: لین نرمی ته وايي او رخوت هم نرمی ته وايي او حروف لینیه بعینه حروف رخوه دي، نو څه وجه ده چې د لین د پاره ئې جدا نوم ذکر کړ، او په رخوت یې اکتفا ونه کړه؟
جواب: په رخوت کې هغه نرمي ده چې هغه په آواز کې وي او په لین کې هغه نرمي ده چې د هغې نه کیفیت مد پیدا کیږي بیا دا نرمي په دوه ډوله ده: ۱: چې جریان الصوت ترې پیدا کیږي. ۲: چې امتداد الصوت ترې پیدا کیږي. نو په رخوت کې اول ډول نرمي ده او په لین کې دوهم ډول نرمي ده.

او دا مطلب نه دی چې تکرار حقیقي به کیږي بلکه د تکرار حقیقي بچ کیدل پکار دي او مشابهت تکرار جایز دی نوددې کول پکار دي

- د تکرار لپاره دري حالات دي:

① تکرار حقیقي. ② عدم تکرار ③ مشابهت تکرار.

① **تکرار حقیقي**: دې ته وایي چې د یوې (را) په ځای دوه او د دوو(۲) په ځای دري ((را)) ګاني اداء کړی شي.

② **عدم تکرار**: دې ته وایي چې حرف (را) په داسې مضبوطۍ سره أدا کړی شي چې د تکرار بوی پکې هم نوي.

او دا دواړه صفتونه احترازي (ځان ساتل) دي.

③ **مشابهت تکرار**: دې ته وایي چې حرف (را) داسې نرمه اداکړی شي چې دا محسوس شي چې په حرف (را) کې تکرار ترسره شو.

او دا صفت ادایي دی او دلته ترې مراد هم دا مشابهت تکرار دی، عدم تکرار او تکرار حقیقي ترې ندی مراد نو دا کول په کار دي.

⑥ تفشي

په لغت کې انتشار او خورېدلو ته وایي.

او په اصطلاح کې: دادی چې ددې حرف د أدا کولو په وخت کې په خوله کې آواز خورېږي لکه (منفوش). په صفت تفشي کې دا احتیاط کول پکار دی چې دژبې سر پورته یا ښکته نه شي ځکه په دې سره تفشي مفخمه أدا کېږي نو بیا به دا (ش) مستفله نه شي بلکه مستعلیه به شي نو په دې کې دژبې سر سیده او نیغ پکار دی. دا صفت فقط په حرف (شین) کې موندل کیږي.

⑦ استطالت

په لغت کې راښکلو او اوږدولو ته وایي.

او په اصطلاح کې: دادی چې ددې حرف د أدا کولو په وخت کې آواز په خوله کې اوږدېږي يعني اقصی حافه لسان پورې . يعني څومره چې ددې حرف مخرج اوږد دی نو دومره به آواز ددې په مخرج کې اوږدېږي . دا صفت فقط په حرف (ضاد) کې موندلی شي.

فايده: ځيني علماء پنځه صفتونه نور هم بيانوي د صفات لازمه غير متضاده سره ځکه هغه صفتونه هم د صفات لازمه په ځير د ځپلو حروفو نه ، نه جدا کيږي، ليکن د هغې نه موږ فقط دوه ذکر کوو:

① **الخفاء** په لغت کې (الاستتار) يعني پټوالي ته وايي .

او په اصطلاح کې :دادی چې ددې حروفو د أدا کولو په وخت کې په آواز کې يوډول پټوالی پيدا کيږي او داسې حروف څلور دي: (حروف مده او حرف هاء) .

په حروف مده کې ځکه خفاء ده،چې ددې مخرج مقدردی، نو ډير پراخه دي ددې آواز په کې محدود نه دی نو کله چې ترې وروسته همزه متصله يا منفصله راشي نو بيا په کې مد کول په کار دی ځکه همزه قوي ده او حروف مده ضعيف دي داسې نه چې د همزې د قوت دوجې نه څوک دا حروف مده بلکل ختم نه کړي، او په حرف (هاء) کې ځکه خفاء ده چې په دې کې ټول صفات ضعيف دي.

د ټولو نه زياته خفاء په (الف) کې ده بيا په (ياء) کې او همدارنګه په (واو) کې او په حرف (هاء) کې ده.①

② **غنه**: په لغت کې د هوسۍ هغه آواز ته وايي کوم چې د بچي ضايع کيدلو په وخت کې اوباسي .

او په اصطلاح کې : دادی چې ددې حروفو د أدا کولو په وخت کې آواز خيشوم ته خي او داسې حروف دوه دي: (ميم او نون) اګر که تنوين هم وي.

① فايده: الف کې د واو او (ياء) نه زياته خفاء ځکه ده چې ددې اعتماد په مخرج محقق بالکل نه وي په خلاف د (واو) او (ياء) باندې ځکه د (واو) او (ياء) معمولي اعتماد په مخارجو اصليه باندې شته . دزياتو معلوماتو لپاره (نهاية القول المفيد) کتل شي.

صفات په اعتبار دقوت او ضعف سره

صفات په اعتبار دقوت او ضعف سره په دوه ډوله دي

① قوي صفات. ② ضعيف صفات.

- قوي صفات دولس (۱۲) دي او هغه دادي:

1	جهر	5	اصمات	9	تكرير
2	شدت	6	صفير	10	تفشي
3	استعلاء	7	قلقله	11	استطالت
4	اطباق	8	انحراف	12	غنه

ليکن په دې قوي صفاتو کې بعضې صفات د ځينې نورو نه قوي دي لکه قلقله په دې ټولو کې قوي صفت دی ، بيا شدت قوي دی
د جهر نه بيا دا درې واړه صفتونه قوي دي د تفشي او صفير نه .
او اطباق د استعلا نه قوي دی او باقي قوي صفات دې پسې دي په قوت کې.

- ضعيف صفات اته (۸) دي او هغه دا دي:

1	همس	4	استفال	7	لين
2	رخوت	5	انفتاح	8	خفاء
3	توسط	6	اذلاق		

ځيني علماء وايي چې صفات په درې (۳) ډوله دي :

① قوي صفات. ② متوسط صفات. ③ ضعيف صفات.

بيا دا صفت توسط ، اذلاق او اصمات په متوسطه صفاتو کې حسابوي .

حروف په اعتبار د قوت او ضعف سره

حروف په اعتبار د قوت او ضعف سره په پنځه ډوله دي:

① **اقوی حروف**: هغه دي چې په هغې کې يا ټول قوي صفات وي يا يکې يو ضعيف وي. او داسې حروف څلور دي ، (ط، ظ، ض، ق).

② **قوي حروف**: هغه دي چې په هغې کې قوي صفات زيات وي او ضعيف پکې کم وي ليکن چې د دؤنه کم نوي. او داسې حروف شپږ دي چې مجموعه يې ده (جد صغرز).

③ **متوسط حروف**: هغه دي چې په هغې کې ضعيف صفات او قوي صفات برابر وي او داسې حروف اته(۸) دي چې مجموعه يې ده: (اخذعت كبا).

④ **ضعيف حروف**: هغه دي چې په هغې کې ضعيف صفات زيات وي او قوي صفات پکې کم وي ليکن چې د دوه صفاتو نه کم نه وي. او داسې حروف پنځه دي چې مجموعه يې ده: (شليوس).

⑤ **اضعف حروف**: هغه دي چې په هغې کې قوي صفات بلکل نه وي يا پکې يو قوي او باقي ټول ضعيف وي. او داسې حروف شپږ دي چې مجموعه يې ده. (حَنِثَ فَهُمْ).[1]

[1] دې کې خينې حروف په اعتبار د قوت او ضعف سره ممشکې قواعدو نه خلاف دي. ليکن دا تقسيم د صفاتو ذاتي قوت او ذاتي ضعف پورې تعلق لري. فتدبر!!

د صفاتو مختصر جدول

صفات	د حروفو مجموعه	كيفيت	د حروفو تعداد
همس	فحثه شخص سكت	د ساه جاري كېدل آواز كمزورى كېدل	١٠
جهر	عظم وزن قاري ذي غض جد طلب	ساه بنديدل او په آواز كې قوت او لوړوالى پيدا كېدل	١٩
شدت	اجد قط بكت	آواز بنديدل او په آواز كې سختي پيدا كېدل	٨
رخوت	خذ غث حظ فض شوص زي ساه	آواز جاري كېدل او په آواز كې نرمي پيدا كېدل	١٢
توسط	لن عمر	آواز د شدت او رخوت په منځ كې ادا كول	٥
استعلاء	خص ضغط قظ	د ژبې بېخ پاسني تالو ته پورته كول، آواز كې تفخيم پيدا كول	٧
استفال	ثبت عز من يجود حرفه اذ سل شكا	د ژبې بېخ د پاسني تالو نه جدا كول ،آواز كې ترقيق پيدا كول	٢٢
اطباق	ص، ض، ط، ظ	د ژبې منځ پاسني تالو سره پيوست كول او د ژبې بېخ پاس تالو ته پورته كول	۴
انفتاح	من اخذ وجد سعة فزكا حق له شرب غيث	د ژبې منځ پاسني تالو نه جدا كول	٢٥
اذلاق	فر من لب	دا حروف په اسانۍ او چټكۍ سره ادا كول	٦
اصمات	جز غش سا خط صد ثقة اذ وعظه يحضله	دا حروف په مضبوطۍ سره ادا كول	٢٣
صفير	ص ، زا ، س	د شپېلۍ په شان او يا هم د مرغۍ په	٣

صفات	د حروفو مجموعه	كيفيت	د حروفو تعداد
		شان آواز پيدا کول	
قلقله	قطب جد	آواز په مخرج کي تمبول	۵
لين	واو ياء ساکنتين ماقبل مفتوح	آواز نرمول په شان د مد	۲
انحراف	ل ، ر	آواز کي ميلان پيدا کول	۲
تکرير	را	د ژبي سر ربول	۱
تفشي	ش	په خوله کي آواز خورېدل	۱
استطالت	ض	آواز اوږدول په مخرج کي	۱
خفاء	هـ ، و ، ي	پټېدل د حرف د وجي د مخرج د پراخي نه	۴
غنه	ن ، م	آواز په خيشوم يعني د پوزي په بېخ کي پيدا کول	۲



د عارضه صفاتو بيان

تعريف

صفات عارضه هغه صفاتو ته وايي چې كله به په يو حرف كې وي او كله به نه وي.

كله چې دا صفات عارضه په يو حرف كې ادا نشي ، نو په حرف كې څه ستونزه نه پيدا كيږي بلكه د هغه حرف حسن او زينت له منځه ځي .

اقسام

صفات عارضه اولس (۱۷) دي چې په لاندې ډول دي:

1	تحقيق	7	تفخيم	13	اظهار حقيقي
2	تسهيل	8	ترقيق	14	اظهار شفوي
3	ابدال	9	ادغام	15	اظهار مطلق
4	حذف	10	غنه زماني	16	اقلاب
5	اثبات	11	اخفاء حقيقي	17	اماله
6	مديت	12	اخفاء شفوي		

صفات عارضه په پنځه (۵) ډوله دي

① عارض بالصفة . ② عارض بالحرف .

③ عارض بالوقف . ④ عارض بالحركة .

⑤ عارض بالوصل .

① **عارض بالصفة**: هغه ته وايي چې په يو حرف کې صفت عارضه د صفت لازمه د وجې نه پيدا شوی وي، لکه تفخيم صفت عارضه دی دا د صفت لازمه د استعلا د وجې نه پيدا شوی دی.

او ترقيق صفت عارضه دا د صفت لازمه د استفال د وجې نه پيدا شوی دی.

② **عارض بالحرف**: هغه ته وايي چې يو صفت عارضه په يو حرف کې د بل حرف د رامنځته کېدو د وجې نه پيدا شي لکه په نون ساکنة او تنوين کې ادغام د حروف (يرملون) د وجې نه پيدا کېږي.

③ **عارض بالوقف**: هغه دی چې يو صفت عارضه په يو حرف کې د وقف د وجې نه پيدا شي لکه مد عارض وقفي وغيره د وقف د وجې نه پيدا کېږي.

④ **عارض بالحركة**: هغه ته وايي چې په يو حرف کې يو صفت عارضه د حرکت د وجې نه پيدا شي لکه د حرف (را) او لفظ الجلاله، تفخيم او ترقيق د حرکت د وجې نه پيدا کېږي.

⑤ **عارض بالوصل**: هغه ته وايي چې په يو حرف کې يو صفت عارضه د وصل د وجې نه پيدا شوی وي لکه مد منفصل جايز وغيره د وصل د وجې نه پيدا کېږي.

تفصيل: دا صفات عارضه د صفات لازمه په شان په ټولو حروفو کې نشي موندلی بلکه دا فقط په اته (۸) حروفو کې موندلی شي چې مجموعه يې ده (اوير ملان) او ددې تفصيل لاندې ذکر کېږي:

- ((همزه)) کې پنځه (۵) صفات عارضه موندلی شي:
  ① تحقيق. ② تسهيل. ③ ابدال. ④ حذف. ⑤ اثبات.
- ((واو)) کې څلور (۴) صفات عارضه موندلی شي:
  ① مديت. ② حذف. ③ اثبات. ④ ادغام.
- ((ياء)) کې هم څلور (۴) صفات عارضه موندلی شي:
  ① مديت. ② حذف. ③ اثبات. ④ ادغام.

- «راء» کې درې (۳) صفات عارضه موندلی شي:
① تفخيم. ② ترقيق. ③ ادغام.
- «ميم» کې څلور (۴) صفات عارضه موندلی شي:
① غنه زماني. ② ادغام. ③ اخفاء شفوي. ④ اظهار شفوي.
- «لام» کې درې (۳) صفات عارضه موندلی شي:
① تفخيم. ② ترقيق. ③ ادغام.
- «الف» کې شپږ (۶) صفات عارضه موندلی شي.
① مديت. ② تفخيم. ③ ترقيق.
④ حذف. ⑤ اثبات. ⑥ اماله.
- «نون» کې هم شپږ (۶) صفات عارضه موندلی شي:
① غنه زماني. ② اظهار مطلق. ③ ادغام.
④ اقلاب. ⑤ اخفاء. ⑥ اظهار حلقي يا حقيقي.

د صفات لازمه او عارضه په منځ کې فرقونه:

د صفات لازمه او عارضه په منځ کې څلور (۴) بنيادي فرقونه:

اول فرق: صفات لازمه په ټولو حروفو کې موندلی شي، او صفات عارضه په بعضي حروفو کې موندل کېږي.

دوهم فرق: صفات لازمه چې په حرف کې أداء نه شي نو حرف بالکل ختمېږي، او صفات عارضه چې په حرف کې أداء نه شي نو فقط دحرف حسن له منځه ځي.

دريم فرق: صفات لازمه چې أداء نه شي نو لحن جلي واقع کېږي، او صفات عارضه چې أدا نه شي نو لحن خفي واقع کېږي.

څلورم فرق: صفات لازمه موقوف على السبب نه وي، او صفات عارضه موقوف على السبب وی.



په لفظ (الجلالة) كې د (لام) حرف قواعد

په دې لمعه كې د لفظ الجلاله د لام تفخيم او ترقيق قواعد بيانيږي:

اوله قاعده: هر كله چې لفظ (الله) او (اللّٰهم) نه په مخكې حرف باندې زبر يا پيښ راغلى وي نو دغه لفظ (الله) او (اللّٰهم) به مفخم ويل كيږي لكه:
(مِنَ اللهِ، رَفَعَهُ اللهُ، سُبْحَانَكَ اللّٰهم، قَالُوْا اللهُمَّ).

دوهمه قاعده: هر كله چې لفظ (الله) او (اللّٰهم) نه په مخكې حرف باندې زير راشي نو دغه لفظ الله او اللّٰهم به مرقق ويل كيږي لكه:
(بِسْمِ اللهِ، قُلِ اللهُمَّ).

دريمه قاعده: لفظ (اللّٰهم) په تفخيم او ترقيق كې په شان د لفظ (الله) دى ځكه (اللّٰهم) په اصل كې (يا الله) ؤ .

فايده: د لفظ (الله) او(اللّٰهم) نه چې علاوه څومره لامونه دي نو په هر حالت كې به هغه مرقق ويل كيږي ځكه اصل په لام كې ترقيق دى لكه: (مَاوَ لّٰهُمْ، وَلَا الضالِيْنَ) او اصل په حرف (راء) كې تفخيم دى.

فايده

① د ټولو نه زيات تفخيم (دكوالى) په لفظ الجلاله كې دى چې دلالت وكړي په عظمت د لوى شان د الله تعالى .
② بيا تفخيم په حرف (طاء) كې دى .
③ بيا په حرف (صاد) كې دى .
④ بيا په حرف (ضاد) كې دى .
⑤ بيا په حرف (ظاء) كې دى .

⑥ بیا په حرف (قاف) کې دی.
⑦ بیا په حرف (غین) کې دی.
⑧ بیا په حرف (خاء) کې دی.
⑨ او بیا په حرف (راء) کې دی.



اتمه لمعه

د حرف (راء) قواعد

د مفخمي (راء) حالتونه

حرف (راء) په شپږو(۶) حالاتو کې مفخمه ویل کیږي، چې په لاندې شپږو قاعدو کې بیانیږي:

اوله قاعده: هر کله چې په حرف (را) باندې زبر، پیښ یا دوه زبرونه اویا دوه پیښونه راشي اګر که مشدد وي نو په دې ټولو حالاتو کې به حرف (راء) مفخمه ویل کیږي لکه: (رَبك، رُبما، خبیراً، بصیرٌ، ضرّاء).

دوهمه قاعده: هر کله چې حرف (راء) ساکنه وي او د هغې نه په مخکې حرف باندې زبر یا پیښ راشي نو دغه حرف (راء) به مفخمه ویل کیږي لکه: (اَرْسَلْنَا، یُرْسَلُ).

دریمه قاعده: هر کله چې حرف (راء) د وقف دوجې نه ساکنه کړی شي او د هغې نه مخکې حرف هم ساکن وي په دې شرط چې یاې ساکنه نه وي او په مخکې حرف باندې زبر یا پیښ راشي نو دغه حرف (راء) به مفخمه اداء کیږي لکه: (القَدْر، العُسْر).

څلورمه قاعده: هر کله چې حرف (راء) ساکنه وي او مخکې ترې کسره عارضي وي نو دغه حرف (راء) به هم مفخمه ویل کیږي لکه: (اِرْجِعُوْ، اِرْکَبْ).

پنځمه قاعده: هر کله چې حرف (راء) ساکنه وي او مخکې ترې کسره منفصله وي نو دغه حرف (راء) به مفخمه (ډکه) لوستل کیږي لکه: (اَمِ ارْتَابُوْ، رَبِّ ارْجِعُوْنِ).

شپږمه قاعده: هرکله چې حرف (راء) ساکنه وي او مخکې ترې کسره اصلي متصله وي ليکن چې ؤروسته ترې د حروف مستعليه نه يو حرف مفتوح په دغه کلمه کې راغلی وي نو دغه حرف (را) به مفخمه (ډکه) ويل کيږی لکه: (فِرْقَةٍ، قِرْطَاسٍ، مِرْصَادًا، اِرْصَادًا، لَبِالْمِرْصَادِ) ددې قاعدې همدا الفاظ په قرآن کريم کې راغلي دي.

د مرققې (راء) حالتونه

حرف (راء) به په پنځه (۵) حالاتو کې مرققه اداء کيږی:

① هر کله چې حرف (راء) باندی زير راشي نو دغه حرف (را) به مرققه (باريکه) لوستل کيږی اگر که مشدده وي لکه: (رِجَالٌ، الرِّجَالُ).

② هرکله چې حرف (راء) ساکنه وي او په مخکې حرف باندې کسره اصلي متصله وي خو چې ؤروسته ترې د حروف مستعليه نه يو حرف مفتوح په دغه کلمه کې نه وي راغلی نو دغه حرف (راء) به مرققه (باريکه) ويل کيږی لکه: (اَنْذِرْ، فِرْعَوْنَ).

③ هرکله چې حرف (راء) د وقف د وجې نه ساکنه شي اومخکې حرف هم ساکن وي او مخکې حرف باندې کسره راشي نودغه حرف (را) به مرققه ويل کيږی: لکه (ذِكْرٌ، بِكْرٌ).

④ هرکله چې حرف (راء) ساکنه شي د وقف د وجې نه او دهغې نه مخکې حرف (ياء) ساکنه وي که مده وي او که لينيه وي نو بيا به دريم حرف ته نشي کتلی بلکه دغه حرف (راء) به مرققه ويل کيږی لکه: (خَيْرٌ، قَدِيْرٌ).

او دا حرف (را) به ښکه مرققه ويلی شي چې حرف (ياء) جوړه ده د دؤ(۲) کسرو نه.

او قانون دادی چې حرف (راء) ساکنه د يوې کسرې نه ؤروسته راشي نو هغه حرف (راء) به مرققه ويل کيږی او که د دوه کسرو نه ؤروسته راشي نو بيا به په طريقه اولی سره مرققه ويل کيږی.

⑤ هر کله چې (راء) مماله راشي نو هغه به مرققه ویلی شي او د امام حفص رحمه الله په نزد په ټول قرآن کریم کې (راء) مماله فقط یو ځای کې راغلې ده. (مجریها).

قاعده: (راء) مرامه به په تفخیم او ترقیق کې د خپل حرکت موافق ویل کیږي او مطلب ددې دادی چې د وقف بالروم په حالت کې به د حرف (راء) د حرکت دریمه حصه ظاهرولی شي اؤقف بالروم په پیښ او زیر کې کیږي، او ددې تفصیل به وروسته راځي إن شاء الله تعالی.

تنبیهات

اوله تنبیه: (را) مشدده به په تفخیم او ترقیق کې د خپل حرکت موافق ویلی شي لکه: (مُسْتَقِرٌّ، الرِّجَال).

دوهمه تنبیه: په لفظ د (كُلُّ فِرْقٍ) کې اختلاف دی:

① تفخیم. ② ترقیق.

تفخیم پکې د عامې قاعدې موافق کیږي ځکه چې د (راء) ساکنې ځخه وروسته د حروف مستعلیه ؤ نه (قاف) راغلی دی. او ترقیق پکې ځکه دی چې (راء) د دوه کسرو په منځ کې واقع شوې ده او کسره تقاضا د ترقیق کوي ، نه د تفخیم.

دویم دا چې دا حرف (راء) چې د کوم حرف مستعلیه د وجې نه مفخمه ویلی شي نوهغه په خپله مکسور دی، نو د هغې په تفخیم کې کمی راغلی دی، نو دا د حرف (راء) په تفخیم باندې اثر نشي کولی خو بیا هم تفخیم او ترقیق دواړه جایز دي.

دریمه تنبیه: په لفظ د (مِصْرَ او عَيْنَ الْقِطْرِ) په دې کې هم اختلاف دی:

① تفخیم. ② ترقیق.

① ترقیق پکې ځکه دی چې حرف (راء) د وقف د وجې نه ساکنه شوې ده او مخکې حرف هم ساکن دی او مخکې حرف باندې کسره راغلې ده.

② تفخیم پکې ځکه دی چې د حرف (راء) ساکنې نه مخکې د حروف مستعلیه ؤ نه یو حرف راغلی دی.

لیکن په دې دواړو کلماتو کې غوره خبره داده چې په لفظ د (مِصْرَ کې تفخیم غوره دی د ترقیق نه ځکه د (مِصْرَ) (راء) مفتوحه ده په حالت د وصل کې او په لفظ د (عَيْنَ الْقِطْرِ) کې ترقیق غوره دی د تفخیم نه ځکه د (قِطْرِ) (راء) مکسوره ده په حالت د وصل کې.

په دې دواړو حروفو کې اصل حرکت ته اعتبار دی.

څلورمه تنبیه: په لفظ د (وَاَنْذِرْ قَوْمَكَ، وَلَا تُصَعِرْ خَدكَ، فَاصْبِرْ صَبْراً) کې هم اختلاف دی:

① تفخیم. ② ترقیق.

① **تفخیم** پکې د عامې قاعدې موافق کېږي ځکه چې د (راء) ساکنې نه ؤروسته د حروف مستعلیه ؤ نه یو حرف راغلی دی.

② **ترقیق** پکې ځکه دی چې د (راء) ساکنې نه مخکې کسره اصلي متصله راغلې ده او ؤروسته ترې د حروف مستعلیه نه یو حرف راغلی دی خو جدا په بله کلمه کې دی نو دا د حرف (را) په تفخیم باندې اثر نشي کولی.

پنځمه تنبیه: په لفظ د(خَيْرٌ او قَدِيْرٌ) کې به هم په حالت د وقف کې دا (راءات) مرقق ویل کیږی ځکه چې د (راء) ساکنې نه مخکې (یاء) ساکنه راغلې ده.

شپږمه تنبیه: په لفظ د (اِذَا يَسْرِ) کې هم اختلاف دی:

① تفخیم. ② ترقیق.

① تفخیم پکې ځکه دی چې حرف (را) د وقف د وجې نه ساکنه شوې ده او مخکې حرف هم ساکن دی او په مخکې حرف باندې فتحه راغلې ده.

② ترقيق پکې ځکه دی چې دا په اصل کې (اِذا يسرى) ؤ نو بعضې قراء وايي چې دا حرف (را) به مرققه ويلى شي ځکه چې دا دلالت وکړي په حذفيت د (يا) باندې ليکن دا قول ضعيف دی.

اماله

اماله په لغت کې مايله کېدلو ته وايي.

او په اصطلاح کې زبر، زيرته، او الف (ياء) ته مايله کولو ته اماله وايي.

د اماله ډولونه

اماله په دوه (۲) ډوله ده:

① اماله کبرى. ② اماله صغرى.

① اماله کبرى

ډېر ميلان کول. په داسې طريقې سره چې زبر زير ته او الف ياء ته مايله شي خو چې د زبر او ياء حصه پکې زياته وي خو دومره زياته هم نه وي چې خالص زير او (يا) ترې جوړه شي او د امام حفص (رحمه الله) په نزد اماله کبرى فقط يو ځاى کې راغلې ده: (مجريها) چې په اصل کې (مَجْراها) ؤ.

② اماله صغرى

هغه ده چې زبر زير ته او الف ياء ته مايله شي خو چې د زبر او الف حصه پکې زياته وي.

ليکن دومره هم زياته نه وي چې خالص الف او زبر ترې جوړ شي او د امام حفص رحمه الله په نزد اماله صغرى نشته.

د حرف (راء) مفخم حالات

حرف (راء) په شپږو (۶) حالاتو کې مفخمه ويل کيږي:

① (راء) مضمومه يا مفتوحه لکه: (رُبما، رَبك، خبيرٌ، بصيراً، ضرَّاء).

② (راء) ساکنه ماقبل مضموم يا مفتوح لکه: (يُرسل، أَرْسَلْنَا).

③ (راء) ساكنه وقفاً ماقبل ساكن ماقبل ضمه يا فتحه لكه. (العُسْر، القَدْر).

④ (راء) ساكنه ماقبل كسره عارضي لكه: (اِرْجِعُو، اِرْكَب).

⑤ (راء) ساكنه ماقبل كسره منفصله لكه: (اَمِ ارْتَابُوا، ربِّ ارْجعون).

⑥ (راء) ساكنه ماقبل كسره متصل ما بعد حرف مستعليه مفتوح. مثال: فِرْقَه، قِرْطَاس، لَبِالْمِرْصَاد، اِرْصَاداً، مِرْصَاداً.

• د حرف (راء) د ترقيق پنځه (٥) حالات دي او هغه دادي:

① راء مكسوره: (رِجَال، الرِّجَال).

② راء ساكنه ما قبل كسره اصلي متصله چې ما بعد تري حرف مستعليه مفتوح په دغه كلمه كې نه وي راغلى: (فِرْعَوْن، انذِرْ).

③ راء ساكنه وقفًا ما قبل ساكن ماقبل مكسور لكه: (ذِكْر، بِكْر).

④ راء ساكنه ماقبل ياې ساكنه يا لينيه: (قَدِيْر، خَبِيْر).

⑤ راء ممالہ لكه: (مجريها).

Scanned by CamScanner



د میم ساکنه او میم مشدده بیان

دلته دخلورو صفات عارضه یادونه کیږي:

① غنه زماني. ② ادغام مثلین صغیر.

③ اظهار شفوي. ④ اخفاء شفوي.

اوله قاعده: هرکله چې (میم) مشدد راشي نو په هغې کې به غنه په مقدار د یو الف ضرور کېږي لکه: (وامّا).①

دوهمه قاعده: د (میم) ساکن لپاره درې (۳) احکام دي:

① اظهار شفوي. ② ادغام مثلین صغیر. ③ اخفاء شفوي.

① هرکله چې د (میم) ساکنه نه ؤروسته بل (میم) راشي نو هلته به ادغام مثلین صغیر کېږي لکه: (الیکمْ مُرسلون).

② هرکله چې (میم) ساکنه نه ؤروسته حرف (با) راشي نو هلته به اخفاء شفوي مع الغنه کېږي لکه: (ومن یعتصمْ بِالله).

③ هرکله چې د (میم) ساکنه نه ؤروسته د حرف (باء) او (میم) نه علاوه د اوه ویشت (۲۷) حروفو نه یو حرف راشي نوهلته به اظهار شفوي کېږي لکه: (امْ حسبت، لکمْ دینکم).

اوله تنبیه: ادغام په لغت کې: (إدخال الشئ في الشئ) ته وایي یعني داخلول د یو شي په بل شي کې.

---

① دیو الف اندازه بنده کونه خلاصول یا خلاصه کونه بندول په عادي حالت کې.

په اصطلاح كې ويلى شي: (هو خلط حرف ساكن بمتحرك بحيث يصيران حرفا واحدا مشددا كالثاني ويتحرك العضو عند أدائهما تحركاً واحداً). دا ادغام ويلى شي داخلول د حرف ساكن په حرف متحرك كې په داسې طريقې سره چې وګرځي دا دواړه حروف يو حرف مشدد په مثل د ثاني او حركت كوي اندام په وخت د أداء كولو ددغه حروفو كې په حركت يو سره.

دوهمه تنبيه: اخفاء په لغت كې: (الستر) يعني پټولو ته وايي.

په اصطلاح كې ويلى شي: (هو النطق بحرف ساكن عار "أى خال" عن التشديد على صفة بين الإظهار والإدغام مع بقاء الغنة في الحرف الأول).

ژباړه: اخفاء تلفظ كول دي په يو حرف ساكن باندې داسې حرف ساكن چې خالي وي د تشديد نه په مابين د اظهار او ادغام كې سره د بقاء دغنې نه په حرف اول كې.

دريمه تنبيه: اظهار په لغت كې: (البيان) ښكاره كولو ته وايي.

په اصطلاح كې: (هو إخراج كل حرف من مخرجه من غير غنة في الحرف المظهر).

ژباړه: اظهار ادا كول دهر حرف دي د خپل مخرج نه ښكاره بغير د غنې نه.

څلورمه تنبيه: ځيني حفاظ د (با، فا، واو) لپاره يوه قاعده بيانوي او دې ته قاعده د (بوف) وايي او دا دليل بيانوي چې دا حروف ټول شفوي دي نو دا درې واړه يو ځل په كار دي.[1]

[1] حفاظ په درې (۳) ډوله دي: ۱- اهل الاخفاء. ۲- اهل الاظهار. ۳- اهل التحريک.
اهل الاخفاء: چې د (ميم) ساكنه نه وروسته دا درې واړه حروف راشي نو په دې ټولو كې په اخفاء كوي.
اهل الاظهار وايي چې په دې ټولو كې به اظهار كيږي.
اهل التحريک وايي چې دې (ميم) ساكنه ته به يو ډول حركت وركول شي.
1: نو اول قسم يعنې په ټولو كې اخفاء كول دا غلط دي.
2: دوهم قول يعنې په ټولو كې اظهار كول دا ضعيف دي. (جاري ....)

لمعه

د نون ساكنه او نون مشدده او تنوين احكام

دلته د پنځه (۵) صفات عارضه يادونه كيږي:

① غنه زماني. ② اظهار. ③ ادغام. ④ اقلاب. ⑤ إخفاء.

① اوله قاعده

هركله چې نون مشدده راشي نو په هغې كې به غنه په مقدار د يو الف ضرور كېږي په شان د (ميم) مشدده لكه: (إِنَّ) .

د نون ساكنه احكام

د نون ساكنه لپاره څلور(۴) احكام دي:

① اظهار . ② ادغام . ③ اقلاب . ④ اخفاء .

② دوهمه قاعده

هركله چې د (نون) ساكنه او تنوين نه وروسته حروف حلقيه راشي نو په دغه (نون) ساكنه او تنوين كې به اظهار حلقي يا اظهار حقيقي كېږي. او داسې حروف شپږ دي: (همزه، هاء، عين، حاء، غين، خاء)لكه: (أَنْعَمْتَ).

③ دريمه قاعده

هركله چې د (نون) ساكنه او تنوين نه وروسته حروف (يرملون) په جدا كلمه كې راشي نو په دغه (نون) ساكنه او تنوين كې به ادغام كېږي .

3: او دريم قول يعني حركت وركول دا بالكل باطل او غلط دى ځكه دا قاعده د هيڅ نه نده نقل په كتابونو د تجويد كې .
اخفا ځكه غلطه ده چې په (باء) كې اخفا صحيح ده ليكن په (واو،فا) كې اخفا صحيح نه ده .
دويم قول يعني اظهار كول ځكه ضعيف دى چې په واو او فا كې اظهار كول بالكل صحيح دى ليكن په با كې اظهار هم جايز دى ليكن غوره او بهتر نه دى .
او دريم قول ځكه بالكل باطل او غلط دى چې دا حالت د قلقلې په ځېر جوړيږي او د قلقلې لپاره پنځه (۵) حروف دي په (ميم) كې قلقله نشته . پله وجه يې دا ده چې (ميم) ته پوره حركت وركول بالكل ثابت نه دي .

بيا كه چيرې د (نون) ساكنه او تنوين نه وروسته حروف: (ينمو) په جدا كلمه كې راشي نو په دغه (نون) ساكنه او تنوين كې به ادغام مع الغنه كېږي لكه: (فمنْ يعمل، حسابا يسيرا).

او كه چيرې د (نون) ساكنه او تنوين نه وروسته حرف (لام، را) راشي نو په دغه (نون) ساكنه او تنوين كې به ادغام بلا غنه كېږي لكه: (منْ ربك، منْ لدنه).

④ **څلورمه قاعده**

اقلاب په لغت كې: (تحويل الشي عن وجه) ته وايي، يعني اړول د يو شي د خپل مخ نه.

په اصطلاح كې ويلى شي: (هو جعل حرفٍ مكان حرفٍ آخر مع مراعات الغنة).

ژباړه: يعني اقلاب ويلى شي ګرځول د يو حرف دي په ځاى د بل حرف باندې سره د غنې نه.

يعني هركله چې د (نون) ساكنه او تنوين نه وروسته حرف (باء) راشي نو دغه (نون) ساكنه او تنوين به په (ميم) ساكنه سره بدليږي بغير د ادغام نه او غنه به پكې په مقدار د يو (الف) ضرور كېږي لكه : (من بعد، خبيرا بصيرا) وغيره.

⑤ **پنځمه قاعده**

اخفاء په لغت كې (الستر) يعني پټولو ته وايي.

په اصطلاح كې ويلى شي:(هي حالة متوسطة بين الاظهار والادغام).

دا اخفاء يو حالت دى په مابين د اظهار او ادغام كې، يعني هركله چې د (نون) ساكنه او تنوين نه وروسته د حروف حلقيه او حروف (يرملون) او (باء) او (الف) نه علاوه د پنځلسو(۱۵) حروفو نه يو حرف راشي نو په دغه (نون) ساكنه او تنوين كې به اخفاء حقيقي كېږي لكه: (إنْ كُنْتُمْ، مِنْ قَبْل).

⑥ شپږمه قاعده

کله چې د (نون) ساکنه نه وروسته حروف (یرملون) په یوه کلمه کې راشي نو په دغه (نون) ساکنه کې به ادغام نه کېږي، بلکه اظهار به کېږي او دې ته اظهار مطلق او اظهار شاذ وايي. اظهار مطلق ورته ځکه وايي چې ددې لپاره کوم قید نشته لکه: (دنیا، بنیان، صنوان، قنوان).

د مطلق ادغام ډولونه

مطلق ادغام په دوه (۲) ډوله دی:

① ادغام صغیر. ② ادغام کبیر.

① ادغام صغیر

هغه ته وايي چې حرف مدغم د ادغام کولو نه مخکې ساکن وي، د ادغام لپاره نه وي ساکن شوی لکه: (الیکمْ مُرسلُون).

② ادغام کبیر

هغه ته وايي چې حرف مدغم د ادغام لپاره ساکن شوی وي د مخکې نه ساکن نه وي لکه: (اَتُحَاجُوْنِّيْ، تَأْمُرُوْنِّيْ، مَكَّنِّي، نِعِمَّا، تَأْمَنَّا) چې په اصل کې: (اتحاجونَنِي، تامرونَنِي، مكنَنِي، نِعْمَمَا، تامنُنَا) وُ.

په دې لومړنیو څلورو کلماتو کې فقط ادغام کېږي او په پنځم لفظ کې یعني (تأمَنّا) په سورة یوسف کې، په دې کې اظهار او ادغام دواړه جایز دي.

ادغام پکې ادغام مع الاشمام کېږي، او اظهار پکې اظهار مع الروم کېږي.

د ادغام کبیر شرطونه

د ادغام کبیر لپاره درې (۳) شرطونه دي:

اول: چې حرف مدغم او مدغم فیه به دواړه مثلین وي.

دوهم: چې دا دواړه به په یوه کلمه کې وي.

دریم: چې دا دواړه به متحرکېن وي.

اقسام د ادغام په اعتبار د وصف او کیفیت

ادغام په اعتبار د وصف او کیفیت سره په دوه (۲) ډوله دی.

① ادغام تام ② ادغام ناقص.

① **ادغام تام**: هغه ته وايي چې حرف مدغم په مدغم فيه کې په داسې طريقې سره داخل شي چې د حرف مدغم ذات او صفت دواړه ختم شي لکه: (قدْ دُخلُوْا، اذْهب).

② **ادغام ناقص**: هغه ته وايي چې حرف مدغم په حرف مدغم فيه کې په داسې طريقې سره داخل شي چې د حرف مدغم ذات ختم شي، ليکن صفت يې څه ناڅه باقي پاتې وي لکه: (فمنْ يَّعمل ، منْ وَّلي).

اقسام د ادغام په اعتبار د سبب

ادغام په اعتبار د سبب سره په درې ډوله دی:

① ادغام مثلين.② ادغام متجانسين.③ ادغام متقاربين.

① **ادغام مثلين**: هغه ته وايي چې داسې دوه حروف په يو بل کې مدغم شي چې دواړه حروف بالکل يو شان وي په اعتبار د ذات اوصفت سره لکه دوه دالونه. مثال: (قدْ دُّخلو).

② **ادغام متجانسين**: هغه ته وايي چې داسې دوه حروف په يو بل کې مدغم شي چې دا دواړه حروف په اعتبار د مخرج سره يو وي او په اعتبار د صفاتو کې د يو بل سره څه ناڅه فرق ولري لکه: (تاء) او (طاء). مثال: (وقالتْ طّائفة).

③ **ادغام متقاربين**: هغه ته وايي چې داسې دوه حروف چې يو بل سره يا په اعتبار د صفت سره يا په اعتبار د مخرج او صفت دواړو سره يو بل ته نږدې نږدې وي لکه: (منْ وَّلي، قلْ رَّب، منْ لّدنه).

اوس دلته ددې درې خبرو پيژندل ضروري دي، که چېرې له دې درې واړو څخه يوه هم وجود ونلري نو ادغام به نه کېږي:

① شرط ادغام. ② سبب ادغام. ③ عدم موانع ادغام.

① **شرط ادغام**: دې ته وايي چې حرف مدغم به ساکن وي که د مخکې نه ساکن وي لکه په ادغام صغير کې او که د ادغام لپاره ساکن شوى وي لکه په ادغام کبير کې، خو په هر صورت حرف مدغم به ساکن وي.

② **سبب ادغام**: درې (۳) دي:

① تماثل. ② تجانس. ③ تقارب.

په **مثلين** کې سبب ادغام تماثل دى لکه: (واذْكُرْ رَّبك).

په **متجانسين** کې سبب ادغام تجانس دى لکه: (قدْ تَّبين).

په **متقاربين** کې سبب ادغام تقارب دى لکه: (الَم نخلقكُّمْ).

③ **موانع د ادغام**: دا معنى ده چې کله مانع د ادغام موجود وي نو بيا اګر که سبب ادغام او شرط ادغام موجود وي نو بيا به ادغام نه کېږي.

په متلين کې مانع د ادغام حروف مده دي که چېرې اولنى حرف ساکن حرف مده وي نو بيا به ادغام نه کېږي لکه: (قالُوْ وهم) دلته اګر که صورتاً مثلين دى ليکن حقيقة مثلين نه دى، ځکه چې اولنى حرف ساکن حرف مده دى، او دوهم حرف متحرک دى يعني په ظاهر کې خو دا دواړه حروف هم مثله دي ليکن په حقيقت کې دا دواړه متجانسين دي کومو علماؤ چې.دا مثلين شمېرلي دي لکه امام جزري رحمه الله وغيره نو هغوى ظاهر ته کتلي دي چې په ظاهر کې دوه واؤنه دي فتدبر!!

حروف مده په مثلين کې ځکه مانع دي چې حروف مده تقاضا د راښکلو د حرف کوي . او ادغام تقاضا د نه راښکلو د حرف کوي، ليکن دلته دا خبره پيژندل په کار ده ، که چېرې اولنى حرف ساکن واو لين وي نو بيا به ادغام کېږي ځکه حروف لين مانع د ادغام نه دي لکه: (بِما عَصَوْ وَّكانُوا).

ځکه حروف لين د ادغام سره منافي نه دي.

په قرآن کريم کې د (ياي لين) مثال په مثلين کې نشته که چېرې وي نوادغام به شوی وي په متقاربين او متجانسين کې مانع د ادغام حروف حلقيه دي .

يعني که چېرې اولنی حرف ساکن، حرف حلقي وي نو بيا به ادغام نه کېږي نه په حرف حلقي کې لکه: (فاصفح عنهم) او نه علاوه د حرف حلقي نه لکه:

(لا تزغْ قلوبنا).

دلته ځکه ادغام نه کېږي چې په کلمه کې ثقل پيدا کېږي.

که چيرې په مثلين کې اولنی حرف ساکن حرف حلقي ؤ نو بيا به ادغام کېږي، ځکه حروف حلقي چې مانع دی د ادغام لپاره نو هغه په متقاربين او متجانسين کې وي او دا مثلين دی لکه: (تسطعْ عّليه، يوجّهْهُ، ماليهْ هّلك).

اقسام د ادغام په اعتبار د سبب او کېفيت

ادغام په اعتبار د سبب او کېفيت سره په پنځه(٥) ډوله دی :

① ادغام مثلين تام . ② ادغام متجانسين تام .
③ ادغام متجانسين ناقص . ④ ادغام متقاربين تام
⑤ ادغام متقاربين ناقص .

فايده: حروف په دوه ډوله دي :

① حروف قمري . ② حروف شمسي .

حروف قمري: څوارلس دي چې مجموعه يې ده: (ابغ حجك وخف عقيمه)

حروف شمسي: د څوارلسو قمري حروفو نه علاوه باقي ټول حروف شمسي دي بيا ددې لپاره دوه (٢) ډوله احکام دي :

① ادغام . ② اظهار .

① هر کله چې د (الف لام) تعريفي نه وروسته د قمري حروفو نه کوم حرف راشي نو په دغه (الف لام) تعريفي کې به اظهار کېږي او دې ته اظهار قمري وايي لکه: (القْمر، البْيت).

② هر کله چې د (الف لام) تعریفي نه وروسته د شمسي حروفو نه کوم حرف راشي نو په دغه (الف لام) تعریفي کې به ادغام کېږي اودې ته ادغام شمسي وايي لکه: (الشّمس، النّار).

سبب الاظهار: کله چې د لام التعریف نه وروسته قمري حروف راشي نواظهار پکې ځکه کېږي چې لام التعریف او حروف قمري د مخرج په لحاظ سره يو بل نه لرې دي، او ددې علامه داده چې د لام التعریف سکون به ښکاره کېدای شي په اظهار قمري کې او تشدید به پرې نه راځي.

سبب الادغام: کله چې د لام التعریف نه وروسته حروف شمسي راشي نو په دغه لام کې به ادغام ځکه کېږي چې لام التعریف او حروف شمسي د مخرج په لحاظ سره يو بل ته نږدې دي، نو د لام التعریف نه چې وروسته لام راشي په دې کې به ادغام شمسي مثلین کېږي لکه: (اللیل)، او باقي حروف شمسي کې به ادغام شمسي متقاربین کېږي د امام خلیل (رحمه الله) په نزد.

او نښه يې داده چې په لام التعریف کې به سکون نه وي او په حرف شمسي به شد وي لکه: (الظّٰلمین).

د ادغام مثلین مثالونه

او دا په څوارلسو(۱۴) حروفو کې کېږي

شماره	حرف مدغم	حرف مدغم فیه	مثالونه	کیفیت
1	با	با	اذهبْ بِّکتابي	تام
2	تا	تا	فما ربحتْ تِّجارتهم	تام
3	د	د	قدْ دَّخلوا	تام
4	ذ	ذ	اذْ ذَّهب	تام

5	را	را	واذكرْ رّبك	تام
6	ع	ع	تسطعْ عّليه	تام
7	فا	فا	فلا يسرفْ فّي القتل	تام
8	لام	لام	قلْ لّكم	تام
9	م	م	إليكمْ مُّرسلون	تام
10	ن	ن	منْ نّاصرين	تام
11	واو	واو	أوْ وّزنوهم	تام
12	ك	ك	يدرككّم	تام
13	ها	ها	يوجيهُّ	تام
14	يا	يا	بيَدِيّ	تام

د ادغام متجانسين اوه(۷) حروف او مثالونه

شماره	حرف مدغم	حرف مدغم فيه	مثالونه	كيفيت
1	دال	تاء	قدْ تّبين	تام
2	تاء	طاء	وقالتْ طّايفة	تام
3	طاء	تاء	بسطتّ	ناقص
4	تاء	دال	اثقلتْ دّعوالله	تام
5	ثاء	ذال	يلهثْ ذّلك	تام
6	ذال	ظاء	اذْ ظّلموا	تام
7	باء	ميم	اركبْ مّعنا	تام

ادغام متقاربین او (۷) حروف او مثالونه

شماره	حرف مدغم	حرف مدغم فیه	مثالونه	کیفیت
1	نون ساکنه او تنوین	لام	مِنْ لَّدنه، مثوىً لَّهم	تام
2	نون ساکنه او تنوین	راء	مِنْ رَّبك، ثمرةٍ رِّزقا	تام
3	نون ساکنه او تنوین	واو	مِنْ وَّال، يومئذٍ وَّاهية	ناقص
4	نون ساکنه او تنوین	یاء	فمَنْ يَّعمل، يومئذٍ يَّصدرالناس	ناقص
5	لام	راء	قُلْ رَّب	تام
6	نون ساکنه	میم	مِنْ مَّاء	تام مع الإختلاف
7	قاف	كاف	الَمْ نَخْلُقكم، په دې کې ادغام تام او ناقص دواړه جایز دي، لیکن غوره پکې ادغام تام دی.	

Scanned by CamScanner

د نون ساکنه او تنوین څلور (۴) احکام او دهغې مثالونه

① اظهار

د نون ساکنه او تنوین نه چې وروسته حروف حلقي راشي نو په دغه نون ساکنه او تنوین کې به اظهار حلقي کېږي او ددې مثالونه لاندې ذکر کېږي:

النون الساكنة			
حروف حلقي	یوه کلمه	دوه کلمې	تنوین
همزه	ينئون	منْ امَن	كفواً احد
ها	فلا تنهر	منْ هاد	سلامٌ هِي
عين	الانْعام	منْ علق	واسعٌ علَيم
حاء	تنْحتون	منْ حيث	حكيم حمَيد
غين	فسينْغضون	منْ غِلّ	ماء غَير آسن
خاء	المنْخنقة	منْ خشى	ناراً خَالداً

② ادغام

هر کله چې د نون ساکن او تنوین نه وروسته حروف (ينمو) په جدا کلمه کې راشي نو هلته به ادغام مع الغنه کېږي لکه مثالونه یې لاندې ذکر شوي دي:

دادغام حروف	نون ساکن	تنوین
یاء	ومنْ يُطِع الله	وجوهٌ يُومئذ
نون	لنْ نُدخلها ابدا	ملكاً نُقاتل
ميم	منْ مّاء دافق	صراطاً مُستقيما
واو	منْ وّاق	ايماناً وّهم

او کله چې د نون ساکن او تنوین نه وروسته حروف (لر) یعني (ل، ر) راشي نو هلته به ادغام بلا غنه کېږي لکه:

دادغام حروف	نون ساكنه	تنوين
لام	انْ لَّنْ تقول	أنداداً لِّيضلوا
راء	مِنْ رَّسول	بشراً رَّسولاً

③ اقلاب

هر كله چې د نون ساكنه او تنوين نه وروسته حرف (باء) راشي نو هلته به اقلاب مع الغنه كېږي لكه مثالونه يې لاندې ذكر كېږي :

داقلاب حروف	نون ساكن		تنوين
باء	من كلمة	من كلمتين	سميعٌ م بصير
	أنبتكم	مِنْ م بعد	سميعاً م بصيرا مشاءُ م بنميم

④ اخفاء

هركله چې د نون ساكنه او تنوين نه وروسته د حروف حلقي او حروف (يرملون) او حروف (باء) نه علاوه يو حرف راشي نو هلته به اخفاء حقيقي كېږي لكه مثالونه يې په لاندې جدول كې ذكر شوي دي:

داخفاء حروف	النون الساكنة		تنوين
	يوه كلمه	دوه كلمې	
صاد	فانْصب	مِنْ صلصال	عملاً صالحا
ذال	انْذر	مِنْ ذكر	عزيزٌ ذوانتقام
ثاء	منْثوراً	مِنْ ثقلت	مطاعٍ ثم امين
كاف	منْكم	مِنْ كان	كراماً كاتبين
جيم	انْجيناكم	انْ جاء كم	فصبرٌ جميل
شين	انْشره	فمنْ شهد	رسولاً شاهدا
قاف	تنْقمون	مِنْ قبل	عادٍ قوم
سين	تنْس	مِنْ سوء	بشراً سويا
دال	انْداداً	ومنْ دخله	قنْوان دانية
طاء	ينْطقون	مِنْ طيبات	كلمةٍ طيبة
زاي	انْزل	مِنْ زكاة	يومئذٍ زرقا
فاء	ينْفقون	مِنْ فضل الله	لآتيةٌ فاصفح
تاء	منْتهون	انْ تصبروا	حليةً تلبسونها
ضاد	منْضود	مِنْ ضريع	قوةٍ ضعفا
ظاء	انْظروا	مِنْ ظهير	قرىً ظاهرة

دلام ساكنه احكام

لام ساكنه په پنځه (۵) ډوله دی:

① لام التعريف -لام (ال). ② لام الفعل.

③ لام الحرف. ④ لام الاسم. ⑤ لام الأمر.

① **لام التعريف**: هغه لام ته وايي چې هغه د اصل كلمې نه نه وي، او همزه وصليه به يې په اول كې راځي او دا فقط په اسم داخليږي لكه: (البيت، المدينة) ددي تفصيل مخكې ذكر شوی دی.

② **لام الفعل**: هغه ساكن لام ته وايي چې په فعل كې راځي هغه فعل كه ماضي وي، مضارع وي او كه امر وي ليكن دا به د كلمې په منځ او اخر كې راځي لكه (الْهاكم، يلْتقطه، يتوكلْ، فاجعلْ).

حكم: ددې دادی چې په دې كې به اظهار كېږي مگر كله چې لام ساكنه د كلمې په اخر كې راشي او ورُوسته تري حرف لام او راء راشي نو بيا به پكې ادغام كيږي لكه: (يَجعلْ لكم، قلْ رَّب).

سبب الادغام: په حرف لام كې سبب تماثل دی او په حرف (راء) كې سبب تقارب دی، په نزد دامام خليل (رحمه الله).

فايده: دغه الف لام په اسم كې په دوه(۲) ډوله راځي:

اول: چې دغه الف لام د اصل كلمې وي لكه:

(الْسنتكم، الْوانا، الْفافا).

دويم: الف لام زايده.

دا هم په دوه (۲) ډوله دی


① **الزايدة اللازمة**: هغه الف لام چې زايده وي خو د كلمې نه په هيڅ صورت كې نه جدا كېږي او دا د كلمې اصل ګرځيدلی وي لكه: (الّذي، اللّذان، اللّذين، الّتي، اللّاتي، اللّايي، الْان، الْيسع).

حكم ددې دادی كه چېرې په دې كلمه كې ددې الف لام نه ؤروسته لام راغلی وي نو ادغام به كولی شي لكه: (الّذي، الّتي...) وغيره.

او كه چېرې ؤروسته ترې بل حرف راغلی وي نو اظهار به كولی شي لكه : (الآن، الْيسع).

② **الزايدة العارضة**: له دې نه مقصد هغه الف لام تعريفي دی چې مخكې يې يادونه شوې چې اظهار قمري يا ادغام شمسي به پكې كېږي.

جدول أحكام اللامات السواكن



③ **لام الاسم**: هغه لام ساکنه ته وايي چې د کلمې په اصل کې وي او د کلمې په منځ کې واقع شوی وي لکه: (سلطان) .

حکم: ددې دادی چې په دې کې به اظهار کېږي .

④ **لام الحرف**: دا په قرآن کريم کې فقط په دوه (۲) حروفو کې راځي (هلْ، بلْ).

حکم ددې دا دی چې که چېرې ؤروسته ترې« لام» او «راء» راشي نو ادغام به کېږي او که چېرې بل حرف راشي نو اظهار به کولی شي لکه: (هلْ لَّكم، بلْ رَّبكم، هلْ تُّرى، بلْ سَّولت) ليکن ددې نه (بلْ رَّان) کلمه مستثنى ده ځکه په دې کې سکته کېږي چې ددې بحث به په خپل ځای کې راځي «إنشاء الله تعالى»

⑤ **لام الامر**: هغه لام ته وايي چې هغه زايد وي، يعني په اصل کلمه کې نه وي او دا به داخلېږي په فعل مضارع باندې او ددې نه به فعل امر جوړوي ليکن په دې شرط چې مخکې ددغه لام نه (ثم، واو، فاء) راشي.

حکم : په دې کې به اظهار کېږي لکه: (ثم لْيقضوا، ولْيوفوا، فلْيمدد).

فايده: د تنوين تعريف: (التنوين هي نون ساکنة زايدة تلحق آخر الاسم تثبت لفظاً و وصلاً و تسقط خطا و وقفا ولا تكون للتأكيد).

د نون ساکنه او تنوين په منځ کې فرقونه

اول: نون ساکنه د کلمې په منځ او اخر کې راځي لکه: (ينْقلب، مَنْ).

او تنوين فقط په اخر کې راځي لکه: (خبيراً).

دوهم: نون ساکنه په اسم، فعل او حرف ،درې واړو کې راځي لکه: (ينْصر، مَنْ، عَنْ). او تنوين فقط په اسم کې راځي لکه: (جبلٌ).

دريم: نون ساکنه په وصل او وقف دواړو کې ويلی شي لکه: (أَنْعَمْتَ). او تنوين په وقف کې يا ختمېږي او يا په الف سره بدلېږي لکه: (عليماً، غفورٌ، اليمٍ).

بِاسْمِهِ لمعه

د مدونو بيان

دلته د يو څو خبرو پيژندل ضروري دي :

① تعريف د مد . ② محل د مد .

③ وجه د خصوصيت ددې حروفو د مديت لپاره .

④ شرط مد . ⑤ سبب مد . ⑥ اقسام مد . ⑦ مقدار مد .

تعريف د مد

مد په لغت کې مطلق راښکلو ته وايي .

په اصطلاح کې ويلى شي: (هو إطالة الصوت بحرف من حروف المد أو اللين).

يعني راښکل د آواز دي په يو حرف د حروف مده ؤ نه يا د حروف لينيه ؤ نه.

حروف مده

حروف مده درې (٣) دي: (الف، واو، ياء).

او حروف لين دوه (٢) دي: (واو، ياء) او الف چېرته هم لين نشي راتلى ځکه د الف نه مخکې حرکت نه بدليږي، د الف نه مخکې هميشه لپاره فتحه وي او دغه الف ته الف مده وايي له دې نه علاوه د الف بل صورت نه جوړيږي .

محل مد

محل مد دوه(٢) دي: ① حروف مده . ② حروف لين .

وجه د خصوصيت ددې حروفو د مديت لپاره :

وجه د خصوصيت ددې حروفو د مديت لپاره داده چې ددې حروفو په ذات کې صفت مديت پروت دی چې بغير ددې نه دا حروف صحيح نه أداء کيږي او په حروف لين کې وجه دا ده چې دا حروف د ډيرې نرمۍ له وجې نه د حروف مده سره

مشابه شوي دي، ګویا چې دا د حروف مده فرع ده ، نو چې په اصل کې مدیت وي نو په فرع کې به هم وي.

د مد شرط

شرط مد دوه (۲) دي:

① حروف مده. ② حروف لین.

د مد سبب

سبب مد دري (۳) دي:

① همزه. ② سکون. ③ تشدید.

د مد پیژندنه

مد لومړی په دوه (۲) ډوله دی:

① مد اصلي. ② مد فرعي.

مد اصلي هغه ته وایي چې د حروف مده نه وروسته سبب مد نه وي راغلی لکه: (قَال، قِیل، قُولوا).

مد فرعي هغه ته وایي چې د حروف مده نه وروسته سبب مد راغلی وي لکه: (جآء، دآبة، الـٓـنَ).

مقدار د مد اقسام

مقدار د مد اقسام دري دي: (طول، توسط، قصر).

① **طول** معنی ډیر راښکل چې مقدار یې دري یا پنځه الفه وي.

② **توسط** معنی نه ډېر او نه کم راښکل چې مقدار یې دوه یا دري الفه وي. (په دې مقدارونو کې د قراءو اختلاف شته).

③ **قصر** معنی لږ راښکل چې مقدار یې یو الف دی په اتفاق د علماؤ سره.

اوس دلته دا خبره ذکر کیږي چې په سبب مد کې همزه او سکون هم دی نو اوس هر یو ددې نه په دوه (۲) ډوله دی

همزه په دوه(۲) قسمه ده :

① همزه متصله . ② همزه منفصله .

سکون هم په دوه قسمه دی

① سکون لازم . ② سکون عارض .

مد فرعي په نهه(۹) ډوله دی چې عبارت دي له

① مد متصل واجب . ② مد منفصل جايز .

③ مد لازم کلمي مخفف . ④ مد لازم کلمي مثقل .

⑤ مد لازم حرفي مخفف . ⑥ مد لازم حرفي مثقل .

⑦ مد لازم لين . ⑧ مد عارض وقفي . ⑨ مد لين عارضي .

مخکې ددې خبرې يادونه و شوه چې سبب مد همزه او سکون دی اوس دا تفصيلا ذکر کېږي .

په همزه کې دوه(۲) ډوله مد کېږي

① مد متصل واجب . ② مد منفصل جايز .

① **مد متصل واجب**: هغې ته وايي چې د حروف مده نه وروسته همزه متصله په يوه کلمه کې راغلی وي لکه:

(جآء، سيئت، ليسوء). او مد متصل ته واجب ځکه وايي چې د ټولو قراءو په نزد باندې دلته مد کول واجب دی .

② **مد منفصل جايز**: هغه ته وايي چې د حروف مده نه وروسته همزه منفصله جدا په بله کلمه کې راغلی وي په داسې طريقې سره چې حروف مده د اولې کلمې په اخر کې راغلی وي او همزه د دوهمې کلمې په اول کې راغلی وي لکه: (قالوا امنا) او مد منفصل ته جايز ځکه وايي چې د بعضې قراءو په نزد په دې کې مد توسط کېږي او د بعضو قراءو په نزد قصر کېږي لکه امام جزري رحمه الله فرمايي :

والمد لازم و واجب اتی ❖ وجايز و هو وقصر ثبتا

حكم د مقدار مد: په دې دوارو مدونو کې توسط دی یعني دوه یا درې الفه ، لیکن په مد منفصل جایز کې قصر هم د ځینو قراءو په نزد جایز دی .

د سبب مد دوهم ډول چې سکون دی دا هم په دوه (۲) قسمه دی :

① سکون لازم . ② سکون عارض .

سکون لازم په اعتبار د سبب مد سره په پنځه (۵) ډوله دی .

① **مد لازم کلمي مخفف** : هغه ته وایي چې د حروف مده نه وروسته په کلمه قرآني کې یو حرف ساکن راغلی وي لکه: (الٰئن).

② **مد لازم کلمي مثقل**: هغه ته وایي چې د حروف مده نه وروسته په کلمه قرآني کې یو حرف مشدد راغلی وي لکه: (دآبة، خآصّة).

③ **مد لازم حرفي مخفف**: هغه ته وایي چې د حروف مده نه وروسته په حروف مقطعاتو کې یو حرف ساکن راغلی وي لکه: (الر) چې په اصل کې : الف لام را ۇ .

④ **مد لازم حرفي مثقل**: هغه ته وایي چې د حروف مده نه وروسته په حروف مقطعاتو کې یو حرف مشدد راغلی وي لکه: (الم) چې په اصل کې (الف لام میم) ۇ .

حكم د مقدار مد په دې څلور واړه ډولونو دمد لازم کې طول دی، یعني درې یا پنځه الفه .

⑤ **مد لین لازم**: هغه ته وایي چې د حروف لین نه وروسته په حروف مقطعاتو کې یو حرف ساکن راغلی وي لکه (عین) د سورت مریم او (عین) د سورة شوری .

حكم د مقدار مد: په دې کې طول ،توسط، قصر درې واړه جایز دي لیکن غوره پکې اول طول دی توسط پکې فقط جایز دی او قصر پکې نشته .

او په دې مد لين لازم کې طول ځکه غوره دی چې ددې مشابهت راشي هغه څلورو وارو قسمونو د مد لازم سره ځکه دلته هم سکون لازم دی او په مد لازم کې هم سکون لازم دی.

دوهم ډول چې سکون عارض دی په دې کې هم په اعتبار د مد سره دوه ډوله مد کيږي:

① مد عارض وقفي. ② مد لين عارض.

① **مد عارض وقفي**: هغه ته وايي چې د حروف مده نه وروسته سکون عارض د وقف د وجې نه راغلی وي لکه: (نَسْتَعِيْنْ).

حکم د مقدار مد: په دې کې هم طول، توسط، قصر درې واړه جايز دي، ليکن غوره پکې اول طول دی بيا توسط بيا قصر.

طول پکې ځکه غوره دی چې اصل په حروف مده کې طول دی.

② **مد لين عارض**: هغه ته وايي چې د حروف لين نه وروسته سکون د وقف د وجې نه راغلی وي لکه: (خَوْف، صَيْف).

په دې کې هم طول ، توسط، قصر درې واړه جايز دي ليکن غوره پکې اول قصر دی بيا توسط بيا طول.

قصر پکې ځکه غوره دی چې اصل په حروف لين کې قصر دی.

بل دا چې دلته سبب او شرط دواړه ضعيف دي.

په دې لمعه کې په مختلفو ځايونو کې د حروف مقطعاتو ذکر شوی دی نو دلته د يو څو خبرو پيژندل ضروري دي:

① د حروف مقطعاتو معنی.
② د حروف مقطعاتو تعداد.
③ دا حروف مقطعات د څو سورتونو په اول کې راغلي دي.
④ د حروف مقطعاتو ډولونه.

⑤ د حروف مقطعاتو حکم.

① معنٰی د حروف مقطعاتو: قطعه، معنی ټکړه ټکړه.

دا حروف هم ټکړه ټکړه یعني جدا جدا ویلی شي.

تعداد د حروف مقطعاتو: دا حروف مقطعات ټول څوارلس (۱۴) دي چې مجموعه یې ده: (کم عسل نقص حي طاهر).

او د نهه ویشت (۲۹) سورتونو په اول کې راغلي دي:

1	سورة البقرة	11	طه	21	الغافر
2	سورة آل عمران	12	الشعراء	22	فصلت
3	الاعراف	13	النمل	23	الشورى
4	يونس	14	القصص	24	الزخرف
5	هود	15	العنكبوت	25	الدخان
6	يوسف	16	الروم	26	الجاثية
7	رعد	17	لقمان	27	الاحقاف
8	إبراهيم	18	السجدة	28	ق
9	الحجر	19	يس	29	ن
10	مريم	20	ص		

اقسام د حروف مقطعاتو

دا حروف مقطعات په دوه قسمه دي: ① ثنایي. ② ثلاثي.

① **ثنايي**: یعني هغه حروف مقطعات چې دوه حروفو والا وي اودا ډول حروف مقطعات پنځه (۵) دي چې مجموعه یې ده: (حي طهر).

حکم ددې دا دی چې دا به د یو الف په مقدار راښکل کیږي یعني مد اصلي به پکې کیږي.

② **ثلاثي**: یعني هغه حروف مقطعات چې هغه د دري حروفو والا وي او دا ډول حروف مقطعات نهه دي چې مجموعه یې ده (کما عسل نقص).

ثلاثي حروف په درې (۳) چوله دي

① هغه حروف مقطعات چې د منځ حرف يې نه حرف مده وي او نه حرف لين وي لکه: (الف) چې ددې قواعد مخکې ذکر شوي دي په مختلفو ځایونو کې او وروسته به هم راشي ((ان شاء الله تعالى)).

② هغه حروف مقطعات چې د منځ حرف يې حرف لين وي نو حکم ددې مخکې په مد لين لازم کې ذکر شوی دی.

③ هغه حروف مقطعات چې د منځ حرف يې حرف مده وي نو په دې لمعه کې د داسې حروفو نه بحث کېږي چې تفصيلاً بحث يې مخکې ذکر شوی دی.

اوله فايده: په دې فايده کې ددې خبرې يادونه کېږي چې د سورت آل عمران په حالت د وصل کې مقدار مد طول او قصر دواړه جايز دي ليکن غوره پکې طول دی او قصر پکې ضعيف دی.

دوهمه فايده: مخکې د الف ذکر شوی ؤ نو اصل په الف کې ترقيق دی ليکن له دې نه يو څو ځايونه مستثنى دي:

هرکله چې الف د حروف مستعليه نه وروسته راشي يا لفظ الجلاله چې کله مفخم وي يعني چې هرکله د مفخم حرف نه وروسته الف راشي نو دغه الف به طبعاً مفخم ويل کيږي.

دريمه فايده: په دې فايده کې دمدونو درجې ذکر کېږي په اعتبار د قوت سره:

① اوله درجه د مد لازم ده.
② دوهمه درجه د مد متصل واجب ده.
③ دريمه درجه د مد عارض وقفي ده.
④ څلورمه درجه د مد منفصل جايز ده.
⑤ پنځمه درجه د مد لين لازم ده.
⑥ شپږمه درجه د مد لين عارض ده.

څلورمه فايده: دې فايده کې دا خبره ذکر کېږي چې په سبب مد کې قوي سبب سکون لازم دی بيا همزه متصله ده بيا سکون عارض دی بيا همزه منفصله ده .

پنځمه فايده: کله چې په يوه کلمه باندې دوه ډوله مدونه جمع شي نو اعتبار به قوي مد ته ورکول کيږي نه ضعيف ته . کله چې مدمتصل واجب او مد عارض وقفي جمع شي لکه : (يَشَآءُ، قُرُوْءٍ) يا مد لازم او مد عارض وقفي جمع شي لکه : (صَوَآفَّ) نو په دې کې طول اتفاقا غوره دی او قصر پکې صحيح نه دی.

ځکه اعتبار به قوي مدته ورکول کيږي ضعيف داعتبار وړ نه دی . البته که چېرې مد متصل واجب او مد عارض وقفي جمع شي نو ددوه سببونو د قوت د وجې نه به په وقف بالاسکان او وقف بالاشمام کې طول کېږي او د وقف بالروم په حالت کې به توسط کېږي .

فوايد متفرقه په بيان د مد کې

① کله چې مد متصل او مد عارض وقفي يو ځاى جمع شي نو طول به کولی شي لکه (جآءِ، قروء).

② **مد منفصل په دوه(٢)ډوله دی**:

① منفصل حقيقي . ② منفصل حکمي .

منفصل حقيقي: کله چې د حروف مده نه همزه جدا په بله کلمه کې راشي لکه: (بني آدم).

منفصل حکمي: کله چې د همزې نه مخکې يا حرف نداء او هاء التنبيه، او هاء الضمير راشي لکه: (يآ ايها الذين، هآ انتم، بعبادة ربه احدا). دلته حروف مده لفظاً ثابت دي او رسماً حذف دي، يعني صورةً متصل دي او حکماً يا حقيقتاً منفصل دي د مقدار تفصيل يې مخکې ذکر شوی دی .

③ **سبب مد په دوه(٢) ډوله دی** :

① سبب لفظي . ② سبب معنوي .

سبب لفظي: مخکې ذکر شوی.

سبب معنوي: په لفظ الجلاله کې دی، د وجې عظمت د الله ﷻ نه.

④ **د تلاوت په وخت کې** ددې خبرې خيال ساتل ضروري دي چې په مدونو کې مساوات لازمي دی، لکه امام جزري رحمه الله فرمايي: (واللفظ في نظيره كمثله).

5: **مد اصلي**: دا سبب نه غواړي او دې ته مد الطبيعي هم وايي.

او د مد اصلي لپاره درې (۳) احوال دي:

① چې حرف مده وقفاً او وصلاً ثابت وي لکه: (يُنَادُوْنَهُمْ).

② چې حرف مده وقفاً ثابت وي او وصلاً حذف وي لکه: (هدىً، قرىً).

③ چې حرف مده وصلاً ثابت وي او وقفاً حذف وي لکه: (بِعِبادِهِ خبيراً).

د مد اصلي نور اقسام

د مد اصلي نور اقسام هم شته لکه:


① **مد العوض**: هغه ته وايي چې دوه زبرونه د وقف دوجې نه په الف سره بدل شي دا مد عوض دی د فتحتينو نه لکه: (سواءً، حسابًا) او دا به د دوه حرکتونو په اندازه رابنکل کيږي.

② **مد التمكين**: کله چې دوه واؤنه او يا دوه ياګاني يو ځای راشي نو اولنی واو مده او يايي مده به صحيح أدا کيږي د وجې د وېرې د ادغام نه لکه: (قالُوْا وهُمْ، فِيْ يَوْمَيْنِ).

③ **مد صلة الصغرى**: هغه ته وايي چې هغه د واحد مذكر غايب لپاره راځي کله چې ترې مخکې او وروسته دواړه حروف متحرک وي نو په دې هاء ضمير کې به صلة صغرى کيږي لکه: (قال لَهُ صَاحبه) او دا په دوه دوله ده: صلة الصغرى، او صلة الكبرى.

④ **صلة الكبرى**: هغې ته وايي چې هاء ضمير نه وروسته همزه راشي نو بيا به پکې صلة الكبرى کېږي لکه: (وما يضل به الا الفاسقين)، ليکن مد صلة الكبرى د مد اصلي له اقسامو څخه نه دی، بلکه دا د مد منفصل جايز له ډولونو څخه دی خو د صلې له وجې مو دلته ورنه يادونه وکړه.

⑤ **مد البدل**: هغه ته وايي چې د حرف مده نه همزه مخکې واقع شوی وي او د حرف مده نه وروسته همزه او سکون نه وي لکه: (ءامنوا، إِيْمانًا) او دې ته مد بدل ځکه وايي چې حرف مده د همزې په بدل کې راغلی دی غالباً.



د همزي بحث

په دې لمعه کې مصنف رحمه الله پنځه (۵) صفات عارضه بیانوي:
① تحقیق. ② تسهیل. ③ ابدال. ④ حذف. ⑤ اثبات.

د همزې اقسام

همزه په دوه (۲) ډوله ده:
① همزه اصلي. ② همزه زایده.

① **همزه اصلي**: هغه ته وایي چې د (فا، عین، لام) کلمې په مقابله کې وي لکه (أَمَرَ، سَئِلَ، بَدَأَ).

② **همزه زایده**: هغه ته وایي چې د (فا، عین، لام) کلمې په مقابله کې نه وي راغلې لکه: (آمَنَ، اِیْمَانًا).

د همزه زایده قسمونه

همزه زایده په دوه (۲) ډوله ده:
① همزه قطعي. ② همزه وصلي.

① **همزه قطعي**: هغه ته وایي چې هغه په ابتداء، منځ او اخر کې ثابته وي لکه (اِذ، اَن، اِکرام).

② **همزه وصلي**: هغه ته وایي چې هغه په ابتداء کې ثابته وي او په منځ کې استعمال نه لري لکه: (الْحق).

- په حروفو کې د (ال) همزه یعنې د الف لام تعریفي همزه وصلي ده باقي د ټولو حروفو همزې قطعي دي لکه: (اَن، اِن) وغیره.

• د اسماؤ له جملې څخه په (۷) اسماؤ کې همزه وصلي ده باقي د ټولو اسماؤ همزې قطعي دي او هغه اوه (۷) اسماء دادي :

① اِسم. ② اِبن. ③ اِبنة. ④ اِمرءٌ.

⑤ اِمرأة. ⑥ اِثنان. ⑦ اِثنتان مع اثنتين.

• او په افعالو کې هم ټولې همزې وصلي دي ما سوا د باب افعال نه څکه د باب افعال همزه قطعي ده لکه: (اِکرام).

فايده: د اجتماع الهمزتين اجمالي دوه صورتونه دي :

① چې دواړه همزې متحرکې وي .

② چې اوله همزه ساکنه وي او دوهمه همزه متحرکه وي .

تفصيلي صورتونه

تفصيلي صورتونه يې پنځه(۵) دي :

① **تحقيق**: هرکله چې دوه همزتين جمع شي په.داسې طريقې سره چې دواړه همزتين قطعي وي او دواړه متحرک وي لکه : (اَءِلـه، اَءُنزل).

نو حکم ددې دادی چې دا دواړه همزې به تحقيق سره صفا او ښکاره أدا کيږي سره د أدا کولو د صفت شدت او جهر نه ،ليکن له دې نه يو لفظ مستثنی دی: (ءَاعجمي) څکه دلته به دې دوهمه همزه کې تسهيل شوی دی او دا تسهيل پکې واجب دی .

② **تسهيل**: دې ته وايي چې همزه داسې أدا شي چې نه د همزې په شان بالکل سخته وي او نه د الف په څير بالکل نرمه وي بلکه د الف او د همزې په منځ منځ کې أدا شي لکه : (ءَاعجمي).

هرکله چې دوه همزتين په يوه کلمه کې په داسې طريقې سره جمع شي چې اوله

همزه پکې قطعي مفتوحه وي اودوهمه همزه پکې وصلي مفتوحه وي لکه: (آلله، آلذکرین، آلئن) چې په اصل کې (ءَ الله، ءَ الذکرین، ءَ لئن) وو.

نو حکم ددې دادی چې اوله همزه باید په تحقیق سره ؤیل شي او په دوهمه همزه کې تسهیل او ابدال دواړه جایز دي، لیکن غوره پکې ابدال دی ځکه په ابدال سره تغیر تام راځي او حذف پکې صحیح نه دی، ځکه که چېرې دا دوهمه حذف شي نو بیا به التباس راشي په مابین د خبر او انشاء کې لیکن په دې دواړو کلماتو کې په حالت د ابدال کې به مد کېږي او په حالت د تسهیل کې به مد نه کېږي.

③ **حذف**: هر کله چې دوه همزتین جمع شي په یوه کلمه کې په داسې طریقې سره چې اوله همزه پکې قطعي مفتوحه وي او دوهمه همزه پکې وصلي مکسوره وي او داسې کلمات په ټول قرآن کریم کې اوه (۷) راغلي دي:

① أَستکبرت، سورة ص. ② أَطلع، سورة مریم.
③ أَفترى، سورة سبا. ④ أَصطفى، سورة صافات.
⑤ أَتخذتم، سورة بقره. ⑥ أَستغفرت، سورة المنافقون.
⑦ أَتخذناهم، سورة ص.

چې دا په اصل کې: (أَإِستکبرت، أَإِطلع، أَإِفترى، أَإِصطفى، أَإِستغفرت، أَإِتخذتم، أَإِتخذنهم) وو.

نو حکم ددې دادی چې اوله همزه به په تحقیق سره ویل کېږي او دوهمه به له منځه ځي، ځکه ددې په له منځه وړلو سره د بلې کلمې سره هیڅ ډول التباس نه راځي.

④ **ابدال:** هرکله چې دوه همزتين په يوه کلمه کې په داسې طريقې سره جمع شي چې اوله همزه پکې قطعي متحرکه وي او دوهم ساکنه وي لکه (امن، اِيمانا، اُومن).

حکم ددې دادی چې اوله همزه به په تحقيق سره ويل کيږي او دوهمه همزه به د اولې همزې د حرکت موافق په حرف مده سره بدليږي او دا ابدال پکې واجب دی، که چېرې مخکې حرکت د فتحې وؤ نو دوهمه همزه به په الف سره بدليږي لکه: (امن).

او که چېرې مخکې حرکت د ضمې ؤ نو دوهمه همزه به په واو سره بدليږي لکه: (اُومن) او که چېرې مخکې حرکت د کسرې ؤ نو دوهمه همزه به په يا سره بدليږي لکه: (اِيمانا).

⑤ **اثبات** : هرکله چې دوه همزتين په يوه کلمه کې جمع شي په داسې طريقې سره چې اوله همزه پکې وصلي مکسوره وي اودوهمه همزه پکې ساکنه وي لکه: (اِئتوني) يا اوله همزه وصلي مضمومه وي او دوهمه همزه ساکنه وي لکه: (اُؤتُمِنَ).

نو حکم ددې دا دی که چېرې ابتداء تلاوت د اولې همزې نه وشي نو بيا به دوهمه همزه د اولې همزې د حرکت موافق په حرف مده سره بدليږي او دا ابدال پکې واجب دی لکه: (اِيتُوني، اُوتمن)، او که چېرې ابتدا د مخکې کلمې نه وشي نو بيا به اوله همزه حذف کيږي او دوهمه همزه به په تحقيق سره ؤيل شي لکه: (في السموات ايتوني، الذي ايتمن).

فايده : په دې فايده کې لفظ د (بئس الاسم الفسوق) حکم بيانيږي .

د وېلو طريقې

ددې د وېلو دوه طريقې دي : ① ابتدا . ② وصل .

① **ابتدا:**

په حالت د ابتدا کې به دوهمه همزه حذف کیږي او په اوله همزه کې اختیار دی یعني حذف او باقي پاتې کېدل یې امکان لري یعني: (السم الفسوق) ویل هم جایز دي . او (لسم الفسوق) ویل هم جایز دي .

② **وصل:** په حالت د وصل کې به اوله او دوهمه همزه دواړه حذف کیږي ځکه دا دواړه همزتین وصلي دي او همزه وصلي په منځ د کلام کې نه کاریږي.

فایده: په دې فایده کې د همزې وصلي د حرکت حکم بیانوي که چېرې د فعل دریم حرف یعني د عین کلمه باندې ضمه راغلې وي نو همزه وصلي به مضمومه وي لکه : (اُقتُل، اُنصُر)، او که چېرې د فعل دریم حرف یعني عین کلمه باندې کسره یا فتحه یا ضمه عارضي راغلې وه نوهمزه وصلي به مکسوره وي لکه : (اِسمَع، اِضرِب، اِتَّقُو).

او په اسماؤ کې همزې وصلي ټولې مکسورې دي لیکن هغه اسم چې د هغې په اول کې الف لام تعریفي راغلی وي نو دغه الف لام تعریفي همزه به مفتوحه وي لکه : (الرجل، البیت).

همزه په اعتبار د واقع کېدلو سره

همزه په اعتبار د واقع کېدلو سره په درې(۳) ډوله ده:

① همزة ابتداییه . ② همزه متوسطه . ③ همزه متطرفه .

همزه ابتداییه همېشه لپاره په خپل شکل لیکل کېږي لکه : (اَمَرَ).

همزه متوسطه او همزه متطرفه به د مقابل حرکت حرف مده په شکل سره لیکل کېږي لکه : (جِیتَ یُؤمِنُ).

لیکن د امام حفص رحمه الله په نزد د همزې متوسطې او متطرفې کوم تغیر اوتبدیل نه دی نقل شوی او د همزې ابتدایي احکام شته .

نو همزه ابتداییه لومړی په دوه(۲) ډوله ده :

اول: همزة الوصل. دوهم: همزة القطع.

د همزة القطع اقسام

همزة القطع په دوه (۲) ډوله ده:

① همزة الاصل. ② همزة الاستفهام.

① همزة الاصل

چې د کلمې په اصل کې پرته وي، اسم وي که فعل ثلاثي مجرد وي او که مزيد فيه، او دا همزة الاصل په اوه (۷) ډوله ده:

① همزة البناء. ② همزة الجمع. ③ همزة الاعلام.
④ همزة المتکلم. ⑤ همزة باب الافعال ⑥ همزة فعل التفضيل.
⑦ همزة فعل التعجب.

① **همزة البناء**: هغې همزې ته وايي چې د کلمې په اصل کې پرته وي يعني د (فا) کلمې په مقابل کې راغلې وي.

دغه همزة البناء په دوه (۲) ډوله ده:

- د کلمې په اصل کې وي او ددغې کلمې د وضع کېدلو په وخت کې به دا همزه پکې وجود لري او بغير ددې نه به کلمه ناقصه وي لکه: (اَبٌ، اَخٌ).
- دا چې دغه همزه به د (فا) کلمې مقابل کې راغلې وي او حکم ددې دادی چې دا به وصلاً او وقفاً ثابته وي او نه به حذف کېږي.

② **همزة الجمع**: دې ته وايي چې د جمع صيغو په اول کې راغلې وي لکه: (انعام، ازواج). او دا به هم وقفاً او وصلاً ثابته وي.

③ **همزة الاعلام**: دې ته وايي چې د عجمو د نومونو په اول کې راځي لکه: (ابراهيم، اسماعيل، ابليس) وغيره دا به هم وقفاً او وصلاً ثابته وي نه به حذف کېږي.

④ **همزة المتكلم**: چې د واحد صيغو په اول كې راځي لكه: (اعلنت، اذهب) او دا به هميشه لپاره مفتوحه وي او په دوارو حالاتو كې به ثابته وي.

⑤ **باب افعال ثلاثي مزيد فيه**:

دا په باب افعال باندې مشهور دى: ددې باب د ماضي په ټولو څوارلسو(۱۴) صيغو كې معلوم وي كه مجهول او د امر په ټولو صيغو كې چې كومه همزه ده دې ته همزه باب افعال وايي او دا به وقفاً او وصلاً ثابته وي لكه: (اَكرم، اَنزل).

⑥ **همزة افعل التفضيل**: دا د غوره والي لپاره راځي لكه : (اَكبر، اَضل) دې ته اسم التفضيل هم وايي دا به هميشه لپاره مفتوحه وي وقفاً او وصلاً به ثابته وي.

⑦ **همزة فعل التعجب**: هغې همزې ته وايي چې د تعجب ښكاره كولو لپاره كارول كيږي او دې لپاره اهل عربو دا كلمه وضع كړې ده : (ما اَفعله اَفعل به) لكه : (اَبصر به، اَسمع بهم، فما اَصبرهم على النار) او دا به هم وقفاً او وصلاً ثابته وي او نه به حذف كيږي.

② **همزة الاستفهام**

همزة استفهاميه په جمله خبريه باندې تاثيركوي او جمله انشاييه اوسواليه ترې جوړه وي اودا په په لاندې اقسامو سره ده :

① چې همزه استفهاميه په داسې كلمه باندې داخله شي چې د مخكې ذكرشو همزو نه په كې يو قسم نه وي لكه : (اَلم تركيف).

② كه چېرې دا همزه استفهاميه په داسې كلمه كې داخله شي چې ذكر شو همزو نه پكې كوم يو قسم نه وي نو بيا به دا همزة الاستفهام د همزې محذوف الرسم سره ليكل كيږي لكه : (ءَاَنذرتهم).

③ كه چېرې دا همزة الاستفهام په داسې كلمه داخله شي چې همزه وصلي غير مفتوحه وي يعني فتحه پرې نه وي نو دا همزه استفهام به په خپل شكل سره ليكل كيږي لكه: (أَطلع) چې په اصل كې (اَءِطلع) وؤ.

4. كه چېرې دا همزة الاستفهام په داسې كلمه داخله شي چې همزه وصلي مفتوحه وي نو بيا به همزة الاستفهام په خپله د الف په شكل سره ليكل كيږي او همزه وصلي به رسماً حذف كيږي او لفظاً به په الف سره بدله شي او يا به پكې تسهيل وشي چې د جملې خبريې او د جملې انشايې تميز وشي لكه: (آلذكرين، آللهُ).

- **همزة الوصل** : همزه وصلي هغې ته وايي چې زايده وي، ددې وجې نه به دا وقفاً ثابته وي او وصلاً حذف كېږي، اودا همزه وصلي به دداً وجې نه راوړل كيږي چې په حرف ساكن ابتداء نه كېږي بيا دا همزه وصلي په دوه (٢) ډوله ده :

① همزة الاسم. ② همزة الفعل.

همزة الاسم : كلمات عرب په درې (٣) ډوله دي :

① اسم. ② فعل. ③ حرف.

په حرف كې چې كومه همزه ده ، هغې ته همزة البناء ويل كيږي او دا همزه قطعي ده.

په حرف كې (الف لام) تعريفي همزه وصلي ده لكه: (الرجل).

دوهم : په اسم كې چې كومه همزه ده هغه زايده ده او وصلي هم ده وصلاً به حذف كيږي لكه : (اِسمٌ اِبنٌ، اِبنَةٌ، اِمرَءٌ، اِمرَءَةٌ، اِثنَانَ، اِثنَتَانِ) او دا همزه به هميشه لپاره مكسوره وي.

دريم: همزة الفعل دې ته ويل كېږي چې هغه د ثلاثي مجرد اود ثلاثي مزيد فيه په امر ، شروع كې راځي نو دا به وصلاً حذف كېږي او وقفاً به ثابته وي بيا كه چېرې د فعل د عين باندې فتحه يا كسره او ياهم ضمه عارضي راغلې وي نو

همزه وصلي به مكسوره وي لكه : (اِضْرِبْ، اِفْتَحْ، اِمْشُوْ) كه چېرې د عين كلمه باندې ضمه راغلې وه نو همزه وصلي به مضمومه وي لكه : (اُنْظُرْ، اُدْخُلْ) د ثلاثي مجرد امر لكه: (اِضْرِبْ، اِشْرَحْ) مزيد فيه امر لكه : (اِرْجِعُوا، اِعْمَلُوْا) د ثلاثي مزيد لكه : (اِهْتَدى، اِنْفَجَرَتْ).





د وقفونو بيان

وقف په لغت كې (الكف و المنع) يعني مطلق ودريدلو ته وايي .

او په اصطلاح كې عبارت ده له : (هو قطع الصوت مع النفس زمناً واسكان المتحرك ان كان متحركا).

ژباړه : وقف ويل كيږي بندول د آواز ته سره د ساه نه، او ساكن كول د حرف متحرک دي كه چېرې دا متحرک وي.

له دې څخه دې نتيجې ته رسيږو چې په وقف كې دا درې خبرې ويېژنو:

① بندول د آواز . ② بندول د ساه .

③ د متحرک حرف ساكن كول كه چېرې دا متحرک وي .

وقف په اعتبار د كيفيت

وقف په اعتبار د كيفيت سره په پنځه(٥) ډوله دی :

① وقف بالسكون . ② وقف بالإسكان . ③ وقف بالروم .

④ وقف بالإشمام . ⑤ وقف بالابدال .

① **وقف بالسكون**: هغه ته وايي چې حرف موقوف عليه د مخكې نه ساكن وي او قاري په دغه حرف ساكن باندې وقف وكړي. لكه: (عليهم، منها. متى) اودا فقط په سكون كې كيږي .

② **وقف بالاسكان**: هغه ته وايي چې د وقف لپاره يو متحرک حرف ساكن كړی شي لكه : (العالمينَ، الدينِ، قديرٌ، اليم).

دا وقف په پنځه (٥) ډوله حركاتو كې كيږي: (زبر، زير، پېش دوه پېښه، دوه زيره) .

③ **وقف بالروم:** دې ته وايي چې د وقف په وخت کې د حرکت دريمه حصه ظاهره کړای شي لکه: (القدرِ، فليدعُ).

او دا وقف فقط په (پيش، دوه پېښه، زير، او دوه زيره) کې کېږي.

ليکن د وقف بالروم په حالت کې د تنوين د يو حرکت دريمه حصه ښکاره کېدلی شي، د تنوين دريمه حصه به نشي ښکاره کېدای.

④ **وقف بالاشمام:** دې ته وايي چې حرف به اول ساکن شي او بيا به د مغې حرکت ته په شونډو سره اشاره وشي لکه: (نستعين).

او دا به فقط په پېښ او دوه پېښه کې کېږي.

⑤ **وقف بالابدال:** هغه ته وايي چې يو حرف او دا وقف بالابدال د قاعدې قانون مطابق په بل حرف سره بدل شي لکه: (عليماً، القارعة).

په تا مدوره (گرده تا) او دوه زبر کې کېږي دوه زبره به په الف سره بدلېږي او تا مدوره (گرده تا) به په ها سره بدلېږي.

وقف بالروم او وقف بالاشمام په های ضمير کې کېږي او په تا مدوره (گرده) او حرکت عارض کې نه کېږي.

وقف په اعتبار د محل

وقف په اعتبار د محل سره په شپږ (۶) دوله دی:

① وقف اتم يا لازم. ② وقف تام. ③ وقف کافي.
④ وقف حسن. ⑤ وقف قبيح. ⑥ وقف اقبح.

① **وقف اتم – يا لازم:** هغه ته وايي چې کلام بالکل مکمل شي که دهغې نه وروسته د ما بعد سره وصل کوې نو معنی بالکل غلطيږي لکه: (والله لا يهدي القوم الظالمين ۞ الذين امنو وهاجروا).

② **وقف تام**: هغه ته وايي چې په يوه داسې کلمه باندې وقف وشي چې د هغې تعلق د ما بعد سره نه لفظاً وي او نه معناً وي لکه (و اولئك هم المفلحون).

③ **وقف کافي**: هغه ته وايي چې په يوه داسې کلمه باندې وقف وشي چې د هغې تعلق د مابعد سره لفظاً نه وي او معناً وي لکه: (يوقنون).

نو حکم ددې دادی چې کله وقف تام او وقف کافي راشي نو د ما بعد نه به شروع کوي، اعاده به نه کوي.

④ **وقف حسن**: هغه ته وايي چې په يوه داسې کلمه باندې وقف وشي چې د هغې د مابعد سره تعلق لفظاً وي او معناً نه وي لکه: (الحمد لله).

ځکه په دې باندې د جملې معنى پوره کېږي، او حکم ددې دادی چې که چېرې وقف حسن د آيت په سر کې راغلی وي نو اعاده به نه کوي، او که چېرې وقف حسن د آيت په منځ کې راغلی وي نو اعاده به کوي.

⑤ **وقف قبيح**: هغه وقف ته وايي چې په يوه داسې کلمه باندې وقف وشي چې د هغې د مابعد سره تعلق لفظي او معنوي دواړه وي لکه په (الحمد) باندې وقف کول حکم ددې دادی که چېرې داسې وقف ترسره شي د ضرورت د وجې نه، نو د ماقبل نه اعاده کول ضروري ده.

⑥ **وقف اقبح**: هغه ته وايي چې په يوه داسې کلمه باندې وقف وشي چې د هغې د مابعد سره تعلق لفظي او معنوي دواړه وي او د وقف د کولو د وجې نه د يوې نامناسبې معنى وهم او شک پيدا کېږي لکه: (وما من اله) باندې وقف وشي او (الا الله) ونه ويل شي ، يا په (لا تقربوا الصلاة) باندې وقف وشي او (وانتم سکرى) ونه ويل شي.

حکم ددې دادی چې داسې وقف بالکل غلط دی او که چېرې داسې وقف بې اختیاره د ډېر ضرورت د وجې نه وشي نو اعاده بالکل لازم او ضروري ده

وقف په اعتبار د قاري او تالي

وقف په اعتبار د قاري او تالي سره په څلور (۴) ډوله دی:

① وقف اختياري. ② وقف اضطراري.

③ وقف اختباري. ④ وقف انتظاري.

① **وقف اختياري**: هغه ته وايي چې قاري په خپله خوښه او اختيار باندې په يو ځاى وقف وکړي.

② **وقف اضطراري**: هغه وقف ته وايي چې قاري د څه عذر د پېښېدو له وجې نه بې اختياره وقف وکړي.

③ **وقف اختباري**: هغه وقف ته وايي چې قاري د تعليم او تعلم په وخت کې ځاى په ځاى وقف کوي.

④ **وقف انتظاري**: هغه وقف ته وايي چې قاري د قرآن د لوستلو په وخت کې يو روايت ختم کړي او د بل روايت د شروع کولو انتظار کوي يا يو آيت ختم شي او د بل آيت د شروع کولو انتظار کوي.

قاعده: کلمه قرآني چې څنګه ليکل شوې ده نو وقف به هم د هغې رسم الخط موافق کېږي څکه وقف تابع د رسم الخط دی، ليکن ددې قاعدې نه يو څو الفاظ مستثنى دي او دغه الفاظ بيا په دوه (۲) ډوله دي:

① هغه کلمات قرآني چې د هغې په اخر کې الف ليکل شوى وي ليکن دغه الف به په حالت د وقف او وصل دواړو کې نه ويل کيږي او داسې کلمات قرآني نهه (۹) او په لاندې ډول دي:

① اَوْيَعْفُوا -بقرة. ② لِيَرْبُوا -روم. ③ اَنْ تَبُوْءَ ا المايده.

④ لِيَبْلُوَا -محمد. ⑤ تَتْلُوا -رعد. ⑥ نَبْلُوا محمد.

⑦ ندعوا -الكهف. ⑧ ثمودا. په ټول قرآن کې

⑨ قواريرا - په سورت دهر کې

② هغه كلمات قرآني چې د هغې په اخر کې الف وي ليکن دغه الف به په حالت د وصل کې نه ويل کيږي او په حالت د وقف کې به ويل کيږي او هغه کلمات قرآني اوه (۷) دي:

① لكناْ -كهف. ② الرسولا -احزاب. ③ السبيلا -احزاب.

④ الظنونا -احزاب. ⑤ قوارير - اولنی سورت دهر کې.

⑥ سلاسلا – دهر، او په دې سلا سلا کې دا قول هم جایز دی چې په حالت د وقف کې دغه الف ونه ويل شي يعني سلاسل وقف وشي.

⑦ لفظ د (انا) به هم داسې ؤيل شي يعني په حالت د وصل کې به دغه الف نه ويل کيږي او په حالت د وقف کې به ويل کيږي.

قاعده: اوس دلته دا خبره ذکر کېږي چې هرکله د حروف مده يا حروف لينو نه وروسته موقوف عليه حرف مفتوح وي لکه: (العالمين).

نو د وقف په لحاظ سره دلته وقف بالاسکان کېږي او په اعتبار د مقدار مد سره په دې کې درې (۳) صورتونه جوړيږي:

● طول ● توسط ● قصر مع الاسکان او دا درې واړه جایز دي.

فايده: هرکله چې موقوف عليه حرف مکسور وي لکه: (الدين) نو په دې کې دوه (۲) ډوله مد کېږي:

① وقف بالاسکان. ② وقف بالروم.

او په اعتبار د مقدار سره په دې کې شپږ (۶) صورتونه جوړيږي:

طول، توسط، قصر مع الاسکان، طول توسط قصر مع الروم، په دې کې څلور جايز دي او دوه ناجایزدي:

- طول توسط قصر مع الاسكان او قصر مع الروم جايز دي، او طول توسط مع الروم ناجايز دي.

فايده: هركله چي موقوف عليه حرف مضموم وي لكه: (نستعينُ) په دې كې درې

(۳) دوله وقف كيږي:

① وقف بالاسكان. ② وقف بالروم. ③ وقف بالاشمام.

او په اعتبار د مقدار سره په دې كې نهه(۹) صورتونه جوړيږي، اوه(۷) صورتونه جايز دي:

طول توسط ، قصر مع الاسكان، طول توسط قصر مع الاشمام، قصر مع الروم، اودوه(۲) صورتونه ناجايز دي، طول توسط مع الروم.

فايده: اوقاف معتبره پنځه دي او كله چي په دې باندې وقف وشي نو د ما بعد نه په شروع كوي اعادې ته ضرورت نشته، او هغه اوقاف معتبره دادي:

① آيت. ② م. ③ طا. ④ ج. ⑤ زا.

فايده: په دې كې د هاى ضمير په اړه بيان كيږي:

هاى ضمير دې ته وايي چې د منصوب متصل او مجرور متصل ضمير واحد مذكر غايب لپاره راځي ، او دا په اسم، فعل، حرف درې واړو كې راځي او دا په دې پورې متصله وي ،

د فعل مثال لكه: (اكله) د حرف مثال لكه: (انه) د اسم مثال لكه: (قومه) د تجويد په كتابونو كې د هاى ضمير متعلق دوه (۲)احكام بيانيږي:

- هاى ضمير د حركت متعلق.
- د هاى ضمير د صلى او عدم صلى متعلق.

① دهاى ضمير د حركت متعلق: كه چېرې دهاى ضمير نه مخكې ياى ساكنه وي كه مده وي او كه لينيه وي لكه: (فيه، اليه) يا دهاى ضمير نه مخكې كسره وي لكه: (به) نو په دې ټولو صورتونو كې به د هاى ضمير حركت كسره وي،

ليكن ددې قاعدې نه دا څلور الفاظ مستثنى دي، او دا پنځه خايه راغلي دي چې په دې كې دوه مضموم دي او دوه ساكن دي چې درې خايه راغلي دي

① وما انسنيه، مضموم په سورت الكهف كې

② عليهُ الله، مضموم په سورت الفتح كې

③ (ارْجِهْ) ساكن دوه خايه په سورت شعراء كې (الْقِهْ) ساكن په سورت نمل كې په لومړنيو دوه كلمو كې هاى ضمير د عامې قاعدې نه خلاف راغلې ده

وجه داده چې د هاى ضمير اصلي حركت ضمه ده خكه په اكثرو خايونو كې د هاى ضمير حركت ضمه ده ددې اكثريت د موافقت د وجې نه دلته هم د هاى ضمير حركت ضمه راغلي ده او (الْقِهْ) او (ارْجِهْ) چې په اصل كې (الْقِيْهِ، ارْجِيْه) ؤ په دې دواړو كلمو كې د امر د وجې نه يا حذف شوې ده او پرخاى يې هاى ساكنه قايمه شوه او (وَيَتَّقْهْ) په سورة نور كې په روايت د امام حفص رحمه الله كې دلته قاف ساكن دى خكه دا په اصل كې (وَيتقِيْهِ) ؤ او دا ياى خكه حذف شوه چې دا په محل د شرط كې واقع شوې ده او قاف تخفيفاً ساكن شو خكه دلته د اصل په اعتبار سره هاى ضمير مكسوره وګرځېده .

خلاصه دا چې د هاى ضمير همدا دواړه حركتونه دي : پيش، او زير

● دهاى ضمير د صلې او عدم صلې متعلق

كه چېرې د هاى ضمير نه مخكې يا وروسته دواړه حروف متحرك وي نو صله به كېږي په دغه هاى ضمير كې

بيا كه چېرې هاى ضمير مضموم وي نو صله به په واو سره كېږي. او كه چېرې هاى ضمير مكسور وي نو صله به په يا سره كېږي (امْرُهٗ اِلَى الله) دلته صله په واو سره شوې ده (به اٰمَنَا) او دلته صله په يا سره شوې ده

ليكن په لفظ د (يرضَهُ لَكم) په دې كې صله نه ده شوې ځكه دا په اصل كې (يرضاه لكم) ؤ نو د هاى ضمير نه مخكې الف راغلى دى، نو د اصل په اعتبار سره دلته د هاى ضمير نه مخكې حرف ساكن راغلى دى نو دا اصل د وجې نه صله ونشوه.

كه چېرې د هاى ضمير نه ماقبل يا ما بعد يا دواړه حروف ساكن وي،نو بيا به پكې صله نه كېږي لكه : (مِنْهُ الماء، يعلمُهُ الكتاب، فيهِ ابدا) ليكن په لفظ د (فيه مهانا) په دې كې صله شوې ده.

وجه دا ده: ځرنګه چې يو لغت كې د هاى ضمير نه ماقبل يا مابعد حروف متحرك وي نو صله به كېږي ،

همدا رنګه دا هم يو لغت دى چې هركله د هاى ضمير نه مخكې حرف ساكن وي نو صله به پكې كېږي لكه په قراءت سبعه كې د عبدالله بن كثير قراءت ددې لغت موافق دى.

نو امام حفص رحمه الله په دې كلمه كې جمعا بين اللغتين كړي دي، يعني په خپل روايت كې يې ددوه لغتونو يا روايتونو د جمع كېدلو له وجې صله كړې ده، داسې مثالونه د امام حفص رحمه الله په روايت كې نور هم شته لكه: (اءعجمي) په دوهمه همزه كې تسهيل شوى دى او په (مجريها) كې اماله كول، دا مثالونه هم د جمعا بين اللغتين دي.

فايده: وقف اختياري په څلور (۴) ډوله دي:

① وقف تام. ② وقف كافي. ③ وقف حسن. ④ وقف قبيح.

په دې اړه د لا ډېرو معلوماتو د ترلاسه كولو لپاره دا كتابونه كتلاى شئ:

① هداية القاري، ② التبيين، ③ هداية الساري، ④ احكام قراءة القرآن، ⑤ الجامع، ⑥ العميد، ⑦ التمهيد، وغيره.



د متفرقه قواعدو بحث

دلته د یو څو مهمو مسایلو یادول چې د قاري لپاره لازمي او ضروري دي

اوله قاعده: په قرآن کریم کې څلور(۴) الفاظ داسې دي چې په هغې کې به ادغام ناقص کېږي او هغه دادي:

لئن بسطت – المایده. احطت – النمل.

فرطتم – یوسف. فرطت – الزمر.

یعني په دې کې به حرف (طاء) په حرف (تاء) کې مدغمه شي او حرف (طاء) به سره د صفت استعلا او اطباق نه بغیر د قلقلې نه مفخمه أداء شي او حرف (تاء) به باریکه أدا شي.

او په لفظ د (الم نخلقکم) په دې کې هم ادغام تام او ناقص دواړه جایز دي لیکن غوره پکې ادغام تام دی.

دوهمه قاعده: په (نون والقلم ، یس والقرآن الحکیم) کې هم د نون ساکن نه وروسته حروف یرملون راغلي دي لیکن د امام حفص رحمه الله په روایت کې دلته اظهار هم جایز دی.

دریمه قاعده: په سورت یوسف دویمه رکوع کې لفظ د (لاتامنّا) چې دا په اصل کې (لا تامننا) ؤ نو په دې کې ادغام مع الاشمام او اظهار مع الروم کېږي لیکن خالص ادغام پکې ناجایز دی.

څلورمه قاعده: په قرآن کریم کې څلور ځایه سکته راغلې ده:

① عِوَجًاس قَیِّمًا – سورة الکهف.

② مِنْ مَرْقَدِ نَا س هٰذَا – سورة یس.

(۳) وقيل منْ س راقْ — سورة القيمة.

(۴) كلا بلْ س ران — سورة المطففين.

سکته په لغت کې (السکوت) چپ کېدلو ته وايي

او په اصطلاح کې عبارت ده له: (هو قطع الصوت مع جريان النفس زمنا واسكان المتحرك ان كان متحركا).

يعني سکته د آواز ختمولوته وايي بغير د ماتولو د ساه نه او حرف متحرک ساکن کول که چېرې متحرک وي.

يعين د وقف او سکتې په منځ کې دا فرق دی چې په وقف کې ساه ماتيږي او په سکته کې نه ماتيږي نور وقف او سکته يو شان ده، او دا څلور واړه سکتې معنوي دي نه لفظي.

پنځمه قاعده: هرکله چې واو مشدد او يا مشدده باندې وقف وشي نو دغه واو اويا ته يو اندازه زور ورکول په کار دي چې شد صحيح أدا شي، داسې نه چې واو او يا مده تري جوړه شي لکه: (على النبيّ، عدوٌ).

شپږمه قاعده: په سورة يوسف کې (وليكونا) او په سورة علق کې (لنسفعا) چې په اصل کې نون ساکن دی ليکن تنوين ليکل شوی دی.

له دې وجې نه وقف په الف سره کېږي ځکه وقف تابع د رسم الخط دی.

اومه قاعده: په قرآن کريم کې څلور (۴) کلمات داسې دي چې ليکل شوی (صاد) دی او د هغه له پاسه کوچنی (سين) ليکل شوی دی.

① په سورت بقره کې (يبصط).

② په سورت اعراف کې (بصطة) په دې دواړو کې به فقط سين ويل کېږي

③ په سورت طور کې (أم هم المصيطرون) په دې کې (صاد) او (سين) دواړه وېل جائز دي.

④ په سورت الغاشية كې (بمصيطر) په دې كې فقط صاد ويل جايز دي

اتمه قاعده: په قرآن كريم كې د ځينو كلماتو په منځ كې الف ليكل شوى دى خو لوستل كيږي نه ،او نښه يې داده چې ددې الف په سر به كوچنى صفر ليكل شوى وي او هغه كلمات دادي:

① لا۠ الى الله تحشرون، سورة آل عمران.

② ولا۠ اوضعوا، سورة التوبة.

③ لا۠ الى الجحيم. سورة الصافات.

④ او لا۠ اذبحنه، سورة النمل.

⑤ لا۠ ءنتم، سورة الحشر.

⑥ افا۠ئن، سورة آل عمران.

⑦ لشا۠ىء، سورة الكهف.


⑧ ملا۠ئه، سورة الاعراف.

⑨ نبا۠ء ، سورة النمل.

⑩ ما۠ئة، سورة الكهف.

⑪ ما۠ئتين. سورة الانفال.





پای

وروستی بحث د اجتماع الساکنین په اړه دی :

اجتماع الساکنین په دوه (۲) ډوله دي :

① اجتماع الساکنین علی حده .

② اجتماع الساکنین علی غیر حده .

① اجتماع الساکنین علی حده دي ته وايي چې دوه ساکنین جمعه شي دواړه په یوه کلمه کې وي او اولنی حرف ساکن پکې حرف مده وي لکه: (خآصه، دآبّة، تعلمون).

نو حکم ددې دادی چې په دې باندې تلفظ کول صحیح دی .

یعني د اجتماع الساکنین علی حده لپاره دوه (۲) شرطونه دي :

① چې اولنی حرف ساکن پکې حرف مده وي .

② چې دواړه په یوه کلمه کې وي .

② اجتماع الساکنین علی غیر حده دي ته وايي چې د علی حده دواړه شرطونه پکې نه وي او یاهم یو.

بیا ددې اجتماع الساکنین علی غیرحده لپاره درې (۳) شرطونه دي :

① چې هرکله دوه ساکنین په یوه کلمه کې جمع شي او اولنی حرف ساکن پکې حرف مده نه وي او دا فقط په وقف کې راځي او په حالت د وصل کې ختمیږي لکه: (القدر، العسر).

حکم ددی دادی چې په دې باندی تلفظ کول صحیح دی .

② هرکله چې دوه ساکنین په دوه کلمو کې جمع شي او اولنی حرف ساکن پکی حرف مده وي لکه: (قالاَ الْحمد، قالوُا لَئِن، فِي الأرض).

نو حکم ددې دادی چې اولنی حرف ساکن حرف مده به لفظاً حذف کیږي.

③ هر كله چې دوه ساكنين په دوه كلمو كې جمع شي او اولنى حرف ساكن پكې حرف مده نه وي لكه: (قلِ الحمد، وانذر الناس).

نو حكم ددې دادى چې اولني حرف ساكن ته به كسره وركول كيږي خكه قاعده داده چې: (الساكن إذا حرك حرك بالكسر) يعني حرف ساكن ته چې حركت وركول كيږي نو د كسرې حركت به وركول كيږي.

كه چېرې اجتماع الساكنين كې اولنى حرف ساكن نون تنوين وي نو هغه به د كوچني نون په شكل وليكل شي او كسره به وركړل شي لكه: (قديرن الذي) او دې ته نون قطني وايي.

ليكن ددې دريم صورت نه څلور (۴) كلمات مستثنى دي:

① هر كله چې دوه ساكنين په دوه كلمو كې جمع شي او اولنى حرف ساكن پكې ميم د جمع يا واو لين د جمع وي لكه:

(عليكمُ القتال، وراوُ العذاب).

حكم ددې دادى چې دغه ميم د جمع او واو لين د جمع ته به ضمه وركول شي.

② هر كله چې دوه ساكنين په دوه كلمو كې جمع شي او اولنى حرف ساكن پكې نون د من جاره وي يا ميم د (الم) په سورت آل عمران كې لكه: (منَ الله، الم الله).

نو حكم ددې دادى چې دغه نون د من جاره او ميم د الم ته به فتحه وركول شي ځكه فتح (اخف الحركات) دى يعني سپک حركت دى.

فايده: په اجتماع الساكنين كې چې كومه همزه وصلي په منځ كې راخي نو هغه به د وصل له وجې نه حذف كېږي، ددغې همزې وصلي د حذف كېدلو نه وروسته اجتماع الساكنين راخي.

له رب العزت څخه دا سوال كووم چې زما دا كوچنى هڅه د طلباء كرامو لپاره دسترې فايدې او زما لپاره صدقه جاريه وګرځوي.

اوپه پای کې له ټولو لوستونکو څخه دکشر ورور په حيث غوښتنه کووم چې ټولو مسلمانانو او په ځانګړي ډول زما والدينو او مشر ورور سيدمحمد (رحمه الله) ته دزړه له تله دعاګانې وکړي.

كتبه: أبو ياسر عمر أحمد السلفي

2014-10-12 م

